

الدعاء 5

دعاء 9

د پيغمبرانو دعاء ګاني 22

د حضرت آدم دعاء 22

د حضرت نوح دعاء 23

د حضرت ابراهيم دعاء 27

دحضرت لوط دعاء 30

د حضرت يوسف دعاء 32

د حضرت شعيب دعاء 35

د موسی دعاء 36

د ايوب دعاء 42

د حضرت سليمان دعاء 44

د حضرت زکريا دعاء 46

د حضرت عيسی دعاء 49

د محمد رسول الله ☸ دعاء 50

د قرض نه د خلاصي لپاره دعاء 65

د دښمن سره د مخامخ کېدو د وخت دعاء 66

د چانه د وېرې په وخت دعاء 68

له دښمنانو څخه د خلاص دعاء 69

د لاري د ورکېدلو د وخت دعاء 69

له الله ①نه د کمک غوښتلو دعاء 69

د مظلوميت د وخت دعاء 70

د عامي وېرې د وخت دعاء 70

د تالندي او تندر د آواز په وخت دعاء 72

د هر حاجت غوښتلو لپاره دعاء 72
د واده د مبارکي ورکولو د وخت دعاء 74
د ماشوم د مبارکي په وخت کي دعاء 74
کوربه ته دعاء 76
هغه چا ته چې د ځښلو څه شی ورکړي دعاء 76
په مجلس کي دعاء 76
د مجلس کفاره دعاء 77
د بیمار د پوښتني د وخت دعاء 77
د بیمار دعاء 79
مړي ته دعاء 80
د مړي خپلوانو ته دعاء 81
د خفګان د وخت دعاء 82
د سخت کار د اسانه کولو دعاء 83
د دعاء د قبلېدلو اسباب 84
لمړی سبب اخلاص 84
دعاء په پته سره کول 86
په پته سره د دعاء کولو فایدي 89
دوهم سبب له الله ①نه مرسته غوښتل 94
دریم سبب توجه کول 99
الله ①د کفارو دعاء هم قبلوي 102
دعاء په ټینګه سره کول 103
بې تکلفه دعاء کول 105
ځلورم سبب تر دعاء وړاندي توبه او استغفار 108
څوک چې ګناه نه پرېږدي دعاء یې نه قبلیږي 112
پنځم سبب سخت احتیاج او ضرورت 113
د بېمار دعاء قبلیږي 114
دعاء په حمد او درود سره شروع کول 115
د دعاء لپاره غوره ځایونه او وختونه 118
په دعاء کي غلطیاني 120

ددعاء ادبونه 123
د پاکي لحاظ ساتل 123
دعاء صرف له الله ①څخه غوښتل 124
ددعا د قبلې‌دلو یو لوی راز 126
د الله ①څخه صرف د روا مقصد لپاره دعاء کول 126
یقین ساتل چې الله ①زما دعاء قبلوي 128
دعاء له ریا څخه ساتل : 128
په دعاء کي نظر صرف د الله ①رحمت ته ساتل: 129
ددعا په وخت کي الله ①ته عاجزي کول: 129
داسي شی نه غوښتل چې نه کې‌دونکي وي 130
ددعا څخه مخکي صدقه کول 130
په دعاء کي نه نا امیده کې‌دل 131
په دعاء کي بخیلي نه کول 131
امام به په دعاء کي مقتدیان شریک کوي 133
د لاسونو پورته کول 133
دعاء بیا بیا تکرارکول 134
دعاء په یقین سره کول 134
په دعاء سره آواز ټیټ ساتل 135
د قران کریم او احادیثو الفاظ ډېر استعمالو 136
دعاء به اول ځان ته بیا نوروخلکو ته کوي 137
خپل غیر حاضر دوست ته دعاء کول 137
احسان کونکي ته ته دعاء کول 139
د نې‌کانو خلکو څخه دعاء غوښتل 139
د دعاء فائدې 140
دعاء رد بلاء ده 140
د الله ①د رحمت سبب کیږي 141
قدر په دعاء رد کیږي 142
په دعاء سره ضرورتونه پوره کیږي 142
دعاء کول د الله ①امر پر ځای کول دي 143

دعاء د مؤمن سلاح ده 143
په دعاء سره زړه ژوندی کيږي 145
ماخذونه 146
د مؤلف چاپ شوي آثار 148

الدعاء

الله① انسان ته په دنيا کې هر ډول نعمتونه ورکړي دي او بيا ددې ټولو نعمتونو د پاسه يې بل نعمت ورکړی دی چې د هرضرورت لپاره يې استعمالولی شي او هر شی وربانديې لاس ته راوړلی شي ځکه خو ورته د مؤمن سلاح ويل شوي دي دا لوی نعمت دعاء ده چې د ټولو نعمتونو سربېره الله ① انسان ته دا وس ورکړی دی چې ده ته په څه شي کې څه ډول مشکل وي هغه الله ① ته لاس پورته کړي او الله ① د انسان سره وعده کړېده چې انسان لاس پورته کړي او څه شی ترېنه وغواړي الله ① به يې ورکوي ...

لکن په اوس وخت کې مونږ وينو چې يو څوک تر ډېره وخته پورې د الله ① نه څه خاصه دعاء غواړي او يا عام خلک د کوم عام مصيبت د لرې کېدلو لپاره دعاء غواړي لکن هغه دعاءګاني نه قبليږي نو چې دېته فکر وکوو چې د الله ① قرآن کريم او د هغه وعدې سل په سلو کې رښتيا دي د مؤمنانو پکې هېڅ شک نشته او چې پدې اړه څوک شک وکوي هغه مؤمن نشي پاتې کېدلی لکن دا دعاء چې نه قبليږي دا زمونږ په دعاءګانو کې نقصان وي ددې

لپاره چې د يو بنده دعاء قبول ته رسيږي څه اسباب او شرطونه دي چې هغه بايد په دعاء کې او يا د دعاء په شاوخوا کې موجود وي او څه داسې غلطياني دي چې هغه بايد زمونږ په دعاءګانو کې موجودې نه وي او څه داسې طريقې دي چې بايد مونږ د هغې طريقې مطابق دعاء وکوو او څه داسې ادبونه دي چې بايد د دعاء په وخت کې يې مراعات وکوو نو ددې خبرو نه خو يا مونږ نه يو خبر او يا يې مراعات نه کوو نو ځکه مونږ ته ښکاره کيږي چې زمونږ دعاء ګانې نه قبليږي او بيا کومه دعاء چې قبوله هم شي د قبول دا معنی نه وي چې انسان ته دې هماغه شی ورکړل شي چې دی يې غواړي کله الله ① انسان ته دا دعاء د آخرت لپاره ذخيره کړي نو پدې اړه مې له ډېره وخته په زړه څه معلومات پراته وو غوښتل مې چې د خپلو وروڼو ، خويندو سره يې په ساده پښتو ژبه شريک کړم لکن اسباب نه برابرېدل دادی اوس الله ① دومره وس راکړو چې په زړه باندې له ډېره وخته ساتلې خبرې لتاسې سره شريکې کړم د دعاء د فضيلت نه به شروع وکوم بيا به د پيغمبرانو د دعاءګانو څه مثالونه تاسې ته مخې ته کېږدم بيا به مخکې ځو لکن مخکې ددې چې په موضوع شروع وکوم پدې ځای کې يوه خبره ماته ډېره را مخې مخې ته کېږي او د هغه وخت نه مې په خپله خاصه کتابچه کې ليکلې ده چې زه کشر طالب وم هغه خبره زه لتاسې سره شريکوم .

حضرت ابراهيم بن ادهم د بصري په ښار کې تېرېدو خلکو تري پوښتنه وکړله :

الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايلي دي : لما څخه سوال وکړئ (څه وغواړئ) زه به ستاسې دعاء قبوله کړم دا مونږ خو هر وخت دعاء ګانې کوو زمونږ دعاء خو نه قبليږي؟

ده ورته وويل :

ستاسې دعاءګانې ځکه نه قبليږي چې ستاسې زړونه په لسو شيانو باندې مړه شوي دي :

١. الله ﷻ مو وپېژندلو (چې ستاسې خالق او مالک او رازق دی) او د هغه حق مو اداء نه کړو .

٢. تاسې دعوه کوئ چې د رسول الله ﷺ سره مينه لرئ لکن د هغه سنت مو پرېښې دي .

٣. قرآن کريم لولئ او عمل وربانديې نه کوئ .

٤. د الله ﷻ نعمتونه خورئ او شکر وربانديې نه کوئ .

٥. تاسې دعوه کوئ چې شيطان ستاسې دښمن دی لکن بيا هم د هغه سره دښمني او مخالفت نه کوئ (داسې کارونه کوئ چې هغه پرې خوشحاليږي) .

٦. په خوله وايست چې جنت حق دی لکن بيا هم د جنت لپاره عمل نه کوئ .

٧. تاسې وايست چې دوزخ حق دی لکن بيا هم د هغه نه د ځان د خلاصولو لپاره عمل نه کوئ .

٨. تاسې په خوله وايست چې مرګ حق دی لکن تياری ورته نه کوئ.

٩. د خلکو د عيبونو په لټولو کې آخته شوي ياست او خپل عيبونه درڅخه هېر دي.

۱۰. خپل مړي په خپلو لاسونو خښوئ او هېڅ عبرت ترينه نه اخلئ .

نو ستاسې دعاء ګانې به څنګه قبولې شي؟

که د ابراهيم بن ادهم دا قصه تاسې په غور لوستلې وي نو تاسې ته به معلومه شوې وي چې د دعاء د نه قبلېدلو ئې ډېر غوره او رښتونې سببونه را ټول کړي دي او دا زما ددې کتاب د موضوع نمائندګي کوي او پدې خبرو کې د شه وضاحت او د داسې دعاء په کولو کې چې الله ① يې قبوله کړي امید دی چې زما دا کتاب ستاسې ملګرتيا وکوي که ددې او د زمزم د هر کتاب په اړه ستاسې څه نکته ، اعتراض، نېوکه او مشوره وي امید دی چې مونږ وروړاندې خبر کړئ چې په راتلونکو کتابونو کې ستاسې مشوره د خپلو کتابونو شائست وګرځوو.

يادښت : د زم زم سره د اړيکو لپاره د موبايل شمېرې او آدرس د کتاب په اړه د معلوماتو په مخ کې د کتاب په شروع کې ځای په ځای شوي دي .

مفتي کفايت الله وردګ

دعاء

د دعاء لفظ په اصل کې مصدر دی عرب وايي دعوت الشئ ادعوه (ما يو شی ځان ته را وغوښتل او را غواړم يې) دا خبره دوی په هغه وخت کې کوي چې په خپل آواز سره کوم شی د ځان لوري ته را واړوي او متوجه يې کړي .[1]

د عرب لغت امام ابن منظور فرمايي چې کله عرب وايي (دعاء الرجلَ) (يعني سړی يې ور وغوښتلو) ددې معنی داده چې د هغه په نوم يې په هغه پسې آواز وکولو او دوی وايي چې دعوت فلاناً ددې معنی داده چې دده څخه ما وغوښتل چې ماته را شي .[2]

امام ابن منظور وړاندې فرمايي : وأصله دعاوٌ؛ لأنه من دعوت, إلا أن الواو لما جاءت متطرّفة بعد الألف هُمزت

ترجمه : د دعاء اصل دعاوٌ وو ځکه فعل يې دعوت راځي مګر کله چې واو د الف نه وروسته په طرف کې واقع شو هغه په همزه بدل شو .[3]

نو دعاء لفظ په اصل کې مصدر دی دا مصدر بيا د اسم په ځای استعمال شو لکه عدل چې د عادل په ځای استعماليږي لکه په زيد عدل کې .[4]

---

[1] مقاييس اللغة
[2] لسان العرب
[3] لسان العرب
[4] لسان العرب

امام ابن منظور فرمايي : په اصطلاح کي دعاء هو الرغبة إلى الله عز وجل (يعني د الله ① لوري ته رغبت کولو ته وايي)

امام خطابي د دعاء د اصطلاحي معنى په اړه فرمايي : معنى الدعاء استدعاءُ العبدِ ربَّه عزَّ وجلَّ العنايةَ، واستمدادُه منه المعونةَ

ترجمه : د دعاء معنى د بنده له رب خپل نه د رحمت او له هغه څخه د کمک غوښتل دي .

ځيني علماوو يې داسې تعريف کړی دی :

هي عبادة تقوم على سؤال العبد ربَّه والطلب منه وهي عبادة من أفضل العبادات التي يحبها الله خالصةً له .

ترجمه : دعاء عبادت دی چې د بنده له خپل رب نه په سوال کولو سره اداء کيږي او دا په عبادتونو کي غوره عبادت دی داسې يو عبادت دی چې د الله ① خوښ دی چې خاص دده لپاره شي (خاص له ده څخه وغوښتل شي) .

ځيني علماء د دعاء اصطلاحي معنى داسې بيانوي :

طلب الأدنى للفعل من الأعلى :على جهة الخضوع والاستكانة

ترجمه : ادنى (په مرتبه کي ښکته) چې له اعلى څخه د کوم کار په عاجزي سره کول غواړي (دېته دعاء وايي)

د مسلمان انسان لپاره په دنيا کي د هرډول مشکل لپاره دعاء بهترينه سلاح ده مسلما چې

کله هم د کوم مشکل سره مخ شي نو په کار ده چې تر هرڅه وړاندې خپل دواړه لاسونه د الله ① دربار ته پورته کړي او ورڅخه مرسته وغواړي ځکه چې .....

دعاء د مؤمن هغه سلاح ده چې هرچېرته يې استعمال کړي کار کوي .

دعاء هغه شی دي چې د مؤمن خوراک ته ضرورت شي خوراک ورکوي که څښاک ته يې ضرورت شي د څښلو شی ورکوي او که جامې ته يې ضرورت شي نو جامه ورکوي.

دعاء د هغه چا يوازينی د امید ځای دی چې بيماري پسې را ا خيستی وی هېڅ ماهر ډاکټر او هېڅ لويه شفاخانه يې بې ليدلو نه وي پريښي او د ټولو ګرځېدو وروسته هم له خپل صحت څخه نا اميده شوی وي ...

دعاء د هغه بيمار علاج هم کولی شي چې ډاکټرانو ورته ويلي وي چې دده علاج نه کيږي .

دعاء د هغه فقير او مسکين لاس هم ډکولی شي چې د لوړې نه يې شپه په لوږه تېره کړې وي او د ورځې يې هم د څه د پيدا کېدلو تمه نه وي .

دعاء هغه چاته هم اولاد ورکولی شي چې دده په نظر ماهرو ډاکټرانو ورته ويلي وي چې ستاسې اولاد نه کيږي .

دعاء د هغه شاګرد په قسمت کې هم کامیابي لیکلی شي چې تر امتحان وړاندې یې د کامیابۍدو امید له ځانه ختم شوی وي .

دعاء د هغه اولادونو اصلاح هم کولی شي چې په ډېر نصیحت یې د پلار د زړه زور ختم شوی وي او اوس یې د هغوی د اصلاح نه امید قطع شوی وي .

لنډه دا چې دعاء هغه کارونه کولی شي چې د مخلوق په نظر یا خو مشکل او یا بالکل نا ممکن او محال شکاره کیږي ددې امله خو الله ① په قرآن کریم کې بیا بیا انسانانو ته وایي چې دعاء وکوئ ... وغواړئ ..

الله ① فرمایي :

اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّ خُفْيَةً ۭ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ (۵۵) [1]

ترجمه : بولئ تاسې رب خپل (هروخت) په زاري او عذر او په پټه سره (ځکه چې په پټه بلل د اخلاص دلیل دی) بېشکه چې الله ① نه خوښوي تېریدونکي (له شرعي حدونو په دعاء بلکه په هرڅه کې) .

په پورتني آیت کې الله ① انسانانو ته فرمایي چې په مشکل وخت کې خپل رب ته عاجزي شکاره کړئ او په پټه سره د هغه نه په خپل مشکل کې مرسته و غواړئ او یا د ځان لپاره تربنه نور نېک شیان

[1] سورة الاعراف آیة ۵۵

وغواړئ ددې امله به اکثر اسلافو دعاءګانې په پټه سره کولې او په دعاء کې، د دعاء په غوښتلو کې او د دعاء په الفاظو کې د ادب حدود مراعات کوئ داسې شی مه غواړئ چې یا عادتاً او یا حقیقتاً محال وي او داسې شیان بالکل د دعاء د ادبونو خلاف دي همدارنګه د الله ① نه په هغه شي کې مرسته مه غواړئ چې هغه ګناه وي ځینې خلک د ګناه په کار کې د الله ① نه مرسته غواړي پدې سره الله ① غصه کیږي په پورتني آیت کې الله ① په دعاء باندې د امر کولو نه وروسته فرمایلي دي چې له حدونو څخه به نه تېرېږئ .

په ورپسې آیت کې الله ① فرمایي :

وَ لَا تُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَ ادْعُوْهُ خَوْفًا وَّ طَمَعًا ؕ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِیْنَ (۵۶) [1]

ترجمه : او مه کوئ فساد (ای انسانانو!) په زمکه کې وروسته له اصلاح د دې (د انبیاوو په بعثت سره) او بولئ تاسې الله ① (عبادت ئې کوئ، او یا دعاء ګانې ورڅخه وغواړئ) په خوف (وېرې) سره (له عذابه د الله) او په طمع (امید د رحمت د الله) بېشکه چې رحمت (مهربانې) د الله ① ډېره نېږدې ده محسنانو (نیکي کوونکو) ته .

---

[1] سورة الاعراف آیة ٥٦

د پورتني آیة نه په وړاندې آیة کې الله ① انسانانو ته وویل که په هرشي کې مو ضرورت وي نو د الله ① نه یې سوال وکوئ او د سوال طریقه یې هم ورته وښوده چې په عاجزي او په پټه سره لکن په چوکاټ کې د ننه سوال کوئ (له حدونو تجاوز مه کوئ) پدې آیت کې یې ورته وویل چې الله ① یو ځل اصلاح راوستلې ده تاسې پکې بیا فساد مه کوئ د خوف او رجاء په مینځ کې د الله ① په عبادت باندې مصروف اوسئ او له هغه څخه دعاء ګانې وغواړئ مه د الله ① د عذاب څخه په امن کېږئ او مه د الله ① د رحمت څخه نا امیده کېږئ ددې دواړو په مینځ کې ژوند کوئ .

په بل ځای کې الله ① فرمایي :

هُوَ الۡحَیُّ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادۡعُوۡهُ مُخۡلِصِیۡنَ لَهُ الدِّیۡنَ ؕ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ (۶۵) [1]

ترجمه : هم دی (الله) ژوندی دی تل په یو حال نشته بل هېڅوک لائق د عبادت مګر هم دی دی یوازې پس وبولئ همدی په داسې حال کې چې خالص کونکي یئ د عبادت دغه الله ① لره د دین (له شرکه) ټوله ثناء ده خاص الله ① لره چې رب پالونکی د ټولو عالمیانو دی.

[1] سورة غافر آیة ٦٥

يعني څومره شه صفات چې دي هغه ټول د وجود تابع دي او هغه چې بغير د قيد او شرط نه ژوندی دی هم دی د عبادت وړ دی اود ټولو کمالاتو لائق دی نو تاسې چې څه غواړئ نو له همدې ذات نه يې وغواړئ پداسې حال کې چې دين مو خاص دده لپاره غوره کړی وي او په خپله ديندارې کې اخلاص ولرئ .

په ځينې آيتونو کې الله ① انسانانو ته ويلي دي چې دعاء وغواړئ له الله ① نه او چې دعاء نه غواړي دښته يې تکبر ويلی دی او د هغوی لپاره يې وعيد را لېږلی دی الله ① فرمايي :

وَ قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْۤ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ (۶۰) [1]

ترجمه : او فرمايي رب ستاسې (ای بندګانوزما) تاسې و بولئ ما چې قبلوم تاسې ته (دعاء ستاسې) بېشکه هغه کسان چې تکبر (سر کشي) کوي له عبادت څخه زما ژر ده چې ننه به وزي په دوزخ کې په داسې حال کې چې خوار او سپک وي .

د بندګي شرط له الله ① څخه غوښتنه کول دي نه غوښتل تکبر او غرور دی د بندګي د شان سره نه ښايي او بندګان چې له الله ① نه څه شی غواړي الله ① وايي زه به د دوی دعاوې ورته قبولې کړم

[1] سورة غافر آية ٦٠

(لکن د قبول دا معنی نه ده چې کوم شی غواړي هغه به ورکوي بلکه د قبول نورې معنی ګانې دي چې په احادیثو کې بیان شوي دي تفصیل به یې راشي) .

او الله ① د هغه کسانو ستاینه کوي چې هغوی دعاء کوي الله ① فرمایي :

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۪ وَ وَهَبْنَا لَهٗ یَحْیٰی وَ اَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا یُسٰرِعُوْنَ فِی الْخَیْرٰتِ وَ یَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّ رَهَبًا ؕ وَ كَانُوْا لَنَا خٰشِعِیْنَ (۹۰) [1]

ترجمه : پس قبوله کړه مونږ دعاء ددغه (زکریا) او ومو باښه دغه (زکریا) ته یحی او صالحه مو کړه ده ته ښځه د ده (د ولادت لپاره د شنډوالي څخه وروسته) بېشکه دغه (مذکور انبیاء) وو دوی چې تلوار به ئې کاوه په (کولو د نېکو عملونو او طلب) د خیراتونو او بللو به ئې مونږ له جهته د مینې (د ثواب) او له جهته د ویرې (د عذاب) او وو دوی خاص مونږ ته متواضع .

الله ① د زکریا په هکله فرمایي چې هغه د صالح ولد سوال کولو هغه سوال یې مونږ ورته قبول کړو یحی مو ورکړو او وروسته ددې چې ښځه یې شنډه وه (اولاد یې نه کېدو) مونږ ورته جوړه

[1] **سورة الانبیاء آیة ۹۰**

کړه (د ولادت لپاره مو صالحه کړه) څکه دوی به په نېکو کارونو کې بېړه کوله او بله دا چې په مینه او محبت به یې دعاء کوله او بله دا چې دوی د الله ﷻ په وړاندې متواضع وو.

په بل ځای کې الله ﷻ فرمایي :

وَ اِذَا سَاَلَکَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ ؕ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ۙ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لِیْ وَ لْیُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُوْنَ (۱۸۶) [1]

ترجمه : او کله چې پوښتنه وکړي (ای محمده!) له تا څخه بندګان زما (له لرې والي او نېږدې والي) زما نو بېشکه زه نېږدي یم (دوی ته په علم او اجابت سره) قبلوم زه سوال د غوښتونکي په هغه وخت کې چې وبولي ما نو ښایي چې دوی هم ومني حکم زما (اطاعت) او ټینګ دې اوسي په ایمان په ما باندې ښایي چې دوی په سمه لاره محکم پاتې شي .

په یو حدیث قدسي کې نقل شوي دي چې الله ﷻ فرمایي :

کلکم ضال إلا من هديته فاستهدوني أهدكم
کلکم عار إلا من کسوته فاستکسوني أکسکم
کلکم جائع إلا من أطعمته فاستطعموني أطعمکم

ترجمه : ستاسي هر یو ګمراه دی بغیر د هغه چا نه چې ما ورته هدایت کړی وي نو زما نه د هدایت سوال وکوئ چې درته هدایت وکوم په ستاسي

[1] سورة البقرة آية ١٨٦

کې هر یو لوڅ دی بغیر دهغه څخه چې ما ورته جامه ورکړې وي لما څخه جامه وغواړئ چې درته جامه درکړم په تاسې کې هر یو وږی دی بیغیر د هغه کس نه چې ما ورته خوراک ورکړی وي لما څخه خوراک وغواړئ چې خوراک درکړم .

پدې حدیث کې ښکاره کیږي چې الله ① انسانان دېته هڅوي چې سوال وکوي سره ددې چې الله ① په هرشي عالم دی او د انسان هر ضرورت ورته معلومیږي لکن بیا هم انسان دېته اړ دی چې هغه د الله ① په وړاندې خپله عاجزي ښکاره کړي او له هغه څخه سوال وکوي او د الله ① خوښیږي چې بنده له هغه څخه وغواړي پداسې ځای کې اکثر ماته د یو شاعر خبره را یادیږي هغه ډېر ښه ویلي دي .

الله یغضب إن ترکت سؤاله ... و بني آدم حین یُسأل یغضب

ترجمه : الله ① په غصه کیږي که تا د هغه څخه غوښتل پرېښودل او د بني آدم (انسان) څخه چې کوم شی غواړې هغه وربانده غصه کیږي .

په یو حدیث کې دعاء ته عبادت ویل شوي دي:

د حضرت نعمان ابن بشیر نه روایت دی هغه فرمایي رسول الله ❁ فرمایل : الدُّعَاءُ هُوَ العِبَادَةُ. (دعاء عبادت دی) . [1]

[1] صحیح الترغیب و ا لترهیب

د حضرت ابي هريره نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : ليس شيء أكرم على الله من الدعاء .[1]

ترجمه : الله ﷻ ته له دعاء څخه معزز شی نشته د حضرت ابي هريره څخه روايت دی رسول الله ﷺ فرمايي : إنه من لم يسأل الله يغضب عليه [2]

ترجمه : د الله ﷻ نه چې څوک سوال نه کوي الله ﷻ ورته غصه کيږي .

له مختلفو احاديثو ا و آيتونو څخه علماوو د دعاء فضائل را ټول کړي دوی فرمايي ...

دعاء د الله ﷻ عبادت دی او د الله ﷻ امر په ځای کول دي (مخکې آيتونه تېر شول چې الله ﷻ بندګانو ته ددعاء کولو په اړه حکم کړی وو)

دعاء د الله ﷻ د هغه بندګانو له صفاتو څخه يو دی چې هغوی تقوی لرونکي وي .

دعاء عبادت دی لکه مخکې چې د رسول الله ﷺ حديث تېر شو.

دعاء د الله ﷻ په وړاندې تر هرڅه معزز شی دی.

---

[1] جامع الترمذي
[2] جامع الترمذي

دعاء هغه څه دي چې د الله ① خوښيږي رسول الله ❁ فرمايي د الله ① نه دعاء وغواړئ د الله ① خوښيږي چې بنده ورڅخه دعاء غواړي .

دعاء د سينې د فراخ کېدلو سبب دی .

دعاء د الله ① د غضب لرې کونکی عمل دی .

دعاء په الله ① باندې د پوره يقين او توکل دليل دی .

دعاء انسان ته د خير او نيکي را جلب کونکي شی دي .

دعاء د انسان څخه د بلاګانو د لرې کولو او د انسان ساتونکی عمل دی .

دعاء تر مصيبت وړاندې د مصيبت دفع کونکی عمل دی .

دعاء تر مصيبت نازلېدلو وروسته دهغه پورته کونکی دی .

دعاء په دښمنانو باندې د کاميياب کېدلو سبب دی .

دعاء ددې دليل دی چې دعاء کونکی په الله ① ايمان او باور لري او د هغه په مرسته او مدد يې عقيده ده .

دعاء هغه څه دي چې ددې امله الله ﷻ د انبياوو ستاينه کړېده چې هغوی په مينه سره دعاء کوله (دليل يې لږ وړاندې تېر شو)

دعاء ته الله ﷻ په يو آيت کې دين ويلي دي الله ﷻ فرمايي فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ.

دعاء هغه څه دي چې الله ﷻ بيا بيا په قرآن کريم کې مسلمانانو ته امر کړی دی چې دوی دې له الله ﷻ نه وغواړي .

دعاء هغه څه دي چې الله ﷻ يې په اړه فرمايلي دي څوک چې لما څخه دعاء غواړي زه هغوی ته نېږدې يم .

دعاء هغه شي دی چې څوک يې ډېره کوي هغه کله هم نه بد بخت کيږي .

دعاء د انسان څخه د هر قسم تکليفونو او عذابونو لرې کونکې ده .

د پیغمبرانو دعاء ګانې

د دعاء تر فضیلت وروسته د پیغمبرانو څه دعاءګانې د مثال او نمونې په ډول وړاندې کول غواړم چې هغوی هغه کسان وو چې الله ﷻ د خلکو د هدایت لپاره را لیږلي وو دلته به ا وس تاسې ته معلومه شي چې هغوی څنګه دعاء ګانې کولې او هغوی د الله ﷻ نه په څه ډول باندې سوال کولو .

د حضرت آدم دعاء

حضرت آدم چې کله هغه مېوه وخوړه چې دی ورڅخه منع کړل شوی وو نو په خپله دعاء کې یې وفرمایل:

رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا. وَ اِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَ تَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ (٢٣)[1]

ترجمه : ای ربه زمونږ مونږ ظلم کړی دی په خپلو نفسونو (ځانونو) باندې او که مغفرت ونه کړې ته مونږ ته او رحمت (مهرباني) ونه کړې ته په مونږ باندې نو مونږ به له زیان کارانو څنې شو (له هغه کسانو څخه به شو چې هغوی تاوان کړی وي) .

[1] سورة الاعراف آية ٢٣

د حضرت نوح دعاء

حضرت نوح چې خپل قوم ته ډېر زيات تبليغ وکولو (پنځوس کم زر کاله) هغوی يې بيا هم تکذيب کولو او د نوح دومره اوږده تبليغ هم هغوی سمې لارې ته را نه وستل نو نوح په خپله دعاء کې له الله ﷻ څخه وغوښتل چې نور د دوی په مقابل کې زما مرسته وکوه ځکه زما په تبليغ دا خلک سمې لارې ته نه را ګرځي نو يې و فرمايل :

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ بِمَا كَذَّبُوْنِ (٢٦) [1]

ترجمه : ای زما ربه مدد وکړه لما سره په سبب ددې چې (دې قوم) تکذيب وکولو زما

حضرت نوح ته الله ﷻ وويل چې په خپله دعاء کې داسې ووايه :

رَّبِّ اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّ اَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ (٢٩) [2]

ترجمه : ای ربه زما کوز کړه ما په يو داسې ځای کې چې مبارک (برکت ناک وي) پداسې حال کې چې ته تر هر چا غوره کوزونکی يې .

يعني هغه وخت چې په قوم باندې طوفان راځي نو ماته (را سره مسلمانانو ته) په بېړۍ کې هوسا ژوند راکړه او په کوم ځای کې چې مونږ ښکته

---

[1] سورة المؤمنون آية ٢٦
[2] سورة المؤمنون آية ٢٩

کېږو هلته هم داسې ځای راکړه چې د تکلیف او مشکل سره مخ نه شو .

کله چې نوح خپل قوم ته ډېر زیات تبلیغ وکړلو او په هغوی باندې دده تبلیغ څه اثر نه کولو نو یې په خپله دعاء کې له الله ① څخه وغوښتل چې دده او دده د قوم په مینځ کې فیصله وکړي او په خپله دعاء کې یې وفرمایل:

رَبِّ اِنَّ قَوْمِیْ كَذَّبُوْنِ (۱۱۷) فَافْتَحْ بَیْنِیْ وَ بَیْنَهُمْ فَتْحًا وَّ نَجِّنِیْ وَ مَنْ مَّعِیَ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ (۱۱۸) [1]

ترجمه : ای زما ربه بېشکه زما قوم زه درواغجن و ګڼلم پس فیصله او حکم وفرمایه زما او د دوی په مینځ کې په یو ډول (طریقه) حکم (او فیصله سره) او نجات راکړه ماته او هغه چا ته چې له ما سره دي له مؤمنانو (د منکرانو له بد انجام څخه .

نوح چې کله خپل قوم ته په غصه شو ځکه دده اوږده تبلیغ په هغوی باندې څه اثر نه کولو نو یې په خپله ښېرا کې له الله ① څخه وغوښتل :

رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِیْنَ دَیَّارًا (۲۶) اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ یُضِلُّوْا عِبَادَكَ وَ لَا یَلِدُوْٓا اِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا (۲۷) [2]

---

[1] سورة الشعراء آیة ۱۱۷ او ۱۱۸
[2] سورة نوح آیة ۲۶

ترجمه : ای زما ربه ! مه پرېږده پر زمکه باندې له کافرانو څخه هېڅ اوسېدونکی (یا ګرځېدونکی او ټول هلاک کړه بېشکه ته که چېرې پرېږدې دوی نو ګمراهان به کړي دوی (مؤمنان) بندګان ستا او نه زېږوي دوی مګر خو فاجر بېباکه نا شکره بدکاره له حقه منکره .

او بیا یې په خپله دعاء کې له الله ① څخه د ځان، مور او پلار او مؤمنانو لپاره بښنه وغوښته او ویې فرمایل .

رَبِّ اغْفِرْ لِیْ وَ لِوَالِدَیَّ وَ لِمَنْ دَخَلَ بَیْتِیَ مُؤْمِنًا وَّ لِلْمُؤْمِنِیْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَ لَا تَزِدِ الظّٰلِمِیْنَ اِلَّا تَبَارًا (۲۸) [1]

ترجمه : ای ربه زما و بښه ما او مور پلار زما او هغه څوک چې ننوزي کور، بېړۍ او مسجد زما ته پداسې حال کې چې ایمان لرونکي وي او وبښه ټول ایمان لرونکي نارینه ا و ټولې ایمان لرونکې ښځې او د کفارو لپاره مه زیاتوه مګر بربادي او هلاک (لکه چې هلاک شول)

نوح په خپله دعاء کې د خپل ځان لپاره (که کوم نقصان ورځخه شوی وي) بښنه وغوښته بیا یې متصل ورپسې مور او پلار ته بښنه وغوښته (ټولو مؤمنانو ته یې یو درس ورکړو چې په خپله دعاء کې مور او پلار ته برخه کوئ) او په هغه وخت کې ئې د موجوده مؤمنانو او تر قیامته پورې د

[1] سورة نوح آیة ۲۹

ټولو نارینه او ښځو مؤمنانو لپاره بښنه وغوښته الله ① د د نوح دعاء زمونږ او د ټولو مؤمنانو او ټولو کافرانو په حق کې قبوله کړي.

د حضرت ابراهيم دعاء

حضرت ابراهيم په خلکو باندې مهربان پيغمبر وو په هغه وخت کې هم د خلکو د امن غم ورسره وو او د کعبې د جوړښت په وخت کې يې د الله ﷻ څخه وغوښتل چې دغه ځای (چې ما پکې کعبه جوړه کړه) په امن کې ساته او چا چې په دوی کې ايمان راوړو هغوی ته مېوې ورکړه حضرت ابراهيم فرمايل :

رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا وَّ ارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ [1]

ترجمه : ای زما ربه وګرځوه دا ښار (چې کعبه مې پکې ودانه کړه) د امن ځای او روزي ورکړه ا وسېدونکو ته يې له هر راز (قسم) مېوو نه هر هغه چا لره چې ايمان ئې راوړی دی له دوی ځنې په الله ﷻ ا و په ورځ آخره باندې (چې د قيامت ورځ ده) .

په اوس وخت کې هر ځای د حضرت ابراهيم دې دعاء ته تر هرڅه زيات ضرورت لري نو ټول مسلمانان بايد د خپلو ځايونو لپاره د حضرت ابراهيم په دعاء باندې دعاء وکوي اميد دی چې الله ﷻ د دوی دعاء هم قبوله کړي .

---

[1] سورة البقرة آية ١٢٦

د کعبې د جوړولو په وخت کې حضرت ابراهیم او حضرت اسمعیل په خپله دعاء کې له الله ① څخه غوښتل چې دا د کعبې د جوړولو کار له دوی څخه قبول کړه او نورې دعاء ګانې یې کولې او فرمایل یې :

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ؕ اِنَّکَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ رَبَّنَا وَ اجْعَلْنَا مُسْلِمَیْنِ لَکَ وَ مِنْ ذُرِّیَّتِنَاۤ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّکَ ۪ وَ اَرِنَا مَنَاسِکَنَا وَ تُبْ عَلَیْنَا ۚ اِنَّکَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ (۱۲۸) رَبَّنَا وَ ابْعَثْ فِیْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِکَ وَ یُعَلِّمُهُمُ الْکِتٰبَ وَ الْحِکْمَةَ وَ یُزَکِّیْهِمْ ؕ اِنَّکَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ (۱۲۹) [1]

ترجمه : ای زمونږ ربه ته قبول کړه دا کار له مونږ څخه بېشکه ته ښه آورېدونکی او ښه پوهېدونکی یې ای ربه زمونږه او وګرځوه مونږه حکم منونکي ستا او (وګرځوه) له اولادې زمونږ یوه ډله حکم منونکي ستا او وښیه مونږ ته ا حکام د حج زمونږ او قبوله کړه زمونږ توبه بېشکه همدا ته ښه توبه قبلونکی او مهربان یې ای ربه ولېږه ه په دوی کې یو رسول له دوی څخه چې په دوی باندې لولي آیتونه ستا (چې د وحدت او نبوت دلائل دي) او ښیي دوی ته کتاب (قرآن) او حکمت (شرعي احکام) او پاک کړه دوی (له

[1] سورة البقرة آية ۲۷ تر ۲۹

ګناهونو) بېشکه همدا ته يې نبه غالب د حکمت خاوند (په خپل کار کې) .

په پورتنۍ دعاء کې حضرت ابراهيم وغوښتل چې دده په نسل کې داسې يو کس پيدا کړي چې نورو ته د الله ① کتاب ولولي او د هغوی اصلاح وکوي نو الله ① يې دا دعاء قبوله کړه د همدې دعاء په قبول کې الله ① حضرت رسول الله ❁ پيدا کړو ددې املە رسول الله ❁ فرمايي : أنا دعوة أبی ابراهيم وبشارة عيسی ورؤيا امی التی رأت (زه د خپل پلار ابراهيم دعاء يم د حضرت عيسی زېږی يم (هغه خلکو ته زېږ ورکړی وو چې لما به وروسته يو نبي راځي احمد به يې نوم وي) او د خپلې مور خوب يم (چې هغې دده ❁ له پيدا کېدو وړاندې خوب ليدلی وو) .

دحضرت لـوط دعـاء

کـله چې د لـوط قـوم د هغه پـه نـصيحت لـه خپل بـد عمل څخه نـه را ګرځېدو او لـوط چې يـوازې کس وو نـو يـې خپل قـوم پـه زور هم سمې لارې تـه نـشوای را وستلی نـو يـې لـه الله ① څخه وغوښتل چې د قـوم پـه مقـابـل کې دده مـرسـتـه وکـوي او ويـې فـرمـايـل :

رَبِّ انْصُرْنِیْ عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِيْنَ [1]

تـرجمـه : ای زمـا ربـه مـدد وکـړه زمـا سره (پـه لـېړلـو د عذاب) پـه دغه قـوم مـفسدانـو (پـه پـيـدا کـولـو د نـا کـاره خصلت پـه عـالـم کې) .

حضرت لـوط دا دعاء هغه وخت وغوښتـه چې کـلـه لـه خپل قـوم څخه نـا امـيـد او مـايـوس شو ښايـي چې لـوط

بـه پـدې پـوهېدلی وي چې دی خـو هسې هم تـول ګـمراه دي او د دی راتـلونـکی نـسل بـه هم پـه سمه لاره تـلونـکي نـه وي او راتـلونـکی نـسل بـه يـې هم د همدې پـلرونـو پـه لاره ځي نـو ځکه يـې لـه الله ① نـه وغوښتل چې پـه دوی بـانـدې د عذاب نـازلـولـو سره لـه ده سره مـرسـتـه وکـوي . [2]

---

[1] سورة العنكبوت آية ٣٠

[2] نوټ : د آيتونو ترجمې مونږ ټولې د کابلي تفسير څخه را اخلو.

په بل ځای کې حضرت لوط له الله ① نه غوښتي چې دی د هغه عمل له عذابه څخه وساتي چې دا قوم یې کوي او فرمایي :

رَبِّ نَجِّنِیْ وَ اَهْلِیْ مِمَّا یَعْمَلُوْنَ (۱۶۹) [1]

ترجمه : ای ربه نجات راکړه ماته او زما اهل ته له (عذابه) د هغو کارونو چې دوی یې کوي . یعني ددوی له ګندګي مونږ وساته په دوی چې کوم عذاب راځي له هغه څخه مونږ وساته د حضرت لوط په دعاء کې د هر مؤمن لپاره درس دی چې هغه کله خپل ځان ته دعاء کوي نو د خیر په دعاء کې دې خپل ا هل هم ورسره ملګری کړي .

[1] سورة الشعراء آية ۱۶۹

د حضرت يوسف دعاء

کله چې د زليخا نورو ښځو چې د هغې ملګرې وې د يوسف په بې ځايه تشويق کولو شروع وکوله او ورته ويل يې چې دا ستا محسنه ده ستا مالکه ده ددې خبره منه او ددې نه بغاوت مه کوه او زليخا هم وويل چې که دی زما خبره ونه منې نو زه به يې بنديخانې ته ولېږم په ضمن کې د زليخا ملګرو که په ښکاره سره يوسف دېته تشويق کولو چې د زليخا خبره ومنې لکن په پټه کې هرې يوې کوښښ کولو چې د يوسف زړه خپلې خوا ته مائل کړي نو يوسف ددې احساس وکولو چې دا ټولې ښځې ده ته د شيطان تيارې کړل شوې لومې او دامونه دي نو حضرت يوسف وويل چې ددې څخه چې زه پدې ګناه کې واقع کېږم دا خبره ښه ده چې زه د بنديخانې ته لاړشم نو په خپله دعاء کې يې وفرمايل:

رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ اِلَیَّ مِمَّا یَدْعُوْنَنِیْۤ اِلَیْهِۚ وَ اِلَّا تَصْرِفْ عَنِّیْ كَیْدَهُنَّ اَصْبُ اِلَیْهِنَّ وَ اَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِیْنَ (۳۳) [1]

ترجمه : ای زما ربه بنديخانه زما ډېره خوښه ده له هغه کاره چې دا ښځې ما دهغه کار خوا ته و ربولې (ای الله ① لرې کړه د دوی مکر او فريب لما څخه) او که ته د دوی فريب لما څخه لرې نه

[1] سورة يوسف اية ۳۳

کړي (هسې نه) میلان وکړم دوی ته بیا به ددې میلان له امله د جاهلانو له جملې څخه حساب شم .

یوسف په خپله دعاء کې خپل رب ته شکاره کړه چې زه په هغه هتکړی رضا یم چې زما لاس ته را وغورځیږي تردې چې په ګناه کې واقع شم بیا یې خپله انساني عاجزي د الله ﷻ په وړاندې شکاره کړه ویې ویل چې ای الله ﷻ که ته ما ددې فریب او مکر څخه خلاص نه کړې هسې نه چې د جاهلانو له جملې شم او پدې معصیت کې واقع شم .

په بل ځای کې حضرت یوسف دعاء کوي او فرمایي :

رَبِّ قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَ عَلَّمْتَنِيْ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ۚ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ اَنْتَ وَلِيّٖ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا وَّ اَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ (١٠١) [1]

ترجمه : ای زما ربه په تحقیق راکړې دي ده ماته څه بادشاهي (او تصرف د مصر) او شولي د دي ماته څه معنی ایستل د خبرو (لکه تعبیر د خوبونو بیان د کتابونو) ای پیدا کونکیه د اسمانونو او زمکې (بې له نمونې) هم ته ئې ولي (دوست واکدار او جوړونکی) زما په دنیا او په آخرت کې، وفات کړه ما په داسې حال کې چې

[1] سورة یوسف آیة ١٠١

مسلمان یم او یو ځای مې کړه (په مرتبه او کرامت کې) له نېکانو سره .

دا ډېره ښکلې او په زړه پورې دعاء ده اول یې په ځان باندې د الله ﷻ نعمتونه یاد کړل او د نعمتونو یادول هم د نعمتونو شکر دی بیا یې د الله ﷻ د عظمت صفات بیان کړل بیا یې په ډېر کمال سره الله ﷻ ته وویل چې په دنیا او آخرت کې زما متصرف ته یې او بیا یې د الله ﷻ نه وغوښتل چې دی د اسلام په حالت کې وفات کړي نو مطلب یې دادی چې کله ماته مرګ راځي نو پداسې حالت کې مې وفات کړه چې زه مسلمان یم او یا یې د الله ﷻ سره د لقاء د شوق له امله د الله ﷻ نه سوال وکولو چې دی نور وفات کړي او په آخرت کې یې د نیکانو سره یو ځای کړي.

د حضرت شعيب دعاء

حضرت شعيب ته د خپل قوم خلکو ويل چې دا د الله ﷻ لوري ته دعوت نور پرېږده ا و بېرته زمونږ لارې ته را واوړه نو حضرت شعيب ورته وويل چې دا هېڅرته نشي کېدلی دا بالکل نا ممکنه ده چې وروسته ددې چې الله ﷻ مونږ ته هدايت کړی دی مونږ بېرته ستاسې په لاره در واوړو او بيا يې دعاء وکوله ويې فرمايل :

وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ط عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ط رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَ بَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَ اَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ [1]

ترجمه : احاطه کړېده ده زمونږ رب په هرشي باندې له جهته د علمه (خاص) پر الله ﷻ توکل کړی دی مونږ ای زمونږ ربه فيصله وکړه په مينځ د مونږ او په مينځ د قوم زمونږ کې په حقه سره او همدا ته يې غوره دې فيصله کونکو .

د حضرت شعيب په دعاء کې د دعاء کولو لوی هنر پروت دی چې هغه په ډېره ښه طريقه سره دعاء غوښتې ده چې تر دعاء يې وړاندې فرمايلي دي ای الله ﷻ خاص او خاص په تا باندې مونږ توکل کړی دی نو پدې ټکي سره حضرت شعيب د خپلو ټولو کارونو اختيار الله ﷻ ته وسپارلو او بيا يې

---

[1] سورة الاعراف آية ٨٩

له هغه څخه دده او دده د قوم په مینځ کې فتح او فیصله وغوښته .

د موسی دعاء

چې کله د موسی د یو بوکس (سوک) له امله قبطي ووژل شو (پداسې حال کې چې دده اراده دهغه د وژلو نه وه نو موسی وویل :

رَبِّ اِنِّیۡ ظَلَمۡتُ نَفۡسِیۡ فَاغۡفِرۡ لِیۡ فَغَفَرَ لَہٗ ؕ اِنَّہٗ ہُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِیۡمُ (۱۶) [1]

ترجمه : ای زما ربه بېشکه زه یم چې ظلم مې کړی دی په خپل ځان باندې په (په قتل ددغه قبطي سره) پس وبښه ماته دغه ګناه زما . پس مغفرت وکړ دغه (الله ﷻ) دغه (موسی) ته بېشکه (الله ﷻ) هم دی دی خامخا ښه بښونکی د (خطاګانو) ډېر رحم لرونکی دی (په انعام د اجر او ثواب کې) .

په پورتني آیة کې حضرت موسی په ډېره عجیبه طریقه سره د الله ﷻ نه د خپلې ګناه لپاره بښنه غوښتې ده اول خو دا چې څنګه قبطي ورڅخه ووژل شو نو بغیر د درنګ او ځنډ نه یې د بښنې سوال وکولو او بل چې کله د الله ﷻ څخه د ګناه بښنه غواړي نو اول یې د الله ﷻ په حضور کې په عاجزي

[1] سورة القصص آیة ١٦

سره د خپلې ګناه اعتراف کړی دی او فرمایلي یې دي ربه ما په خپل ځان ظلم وکولو او بیا یې سوال کړی دی چې ای ربه ماته زما دا خطا را وبښه الله ﷻ هم ورپسې وفرمایل چې الله ﷻ هم ورته بښنه وکوله ... نو چې کله هم د انسان څخه کومه ګناه وشي نو بیا د حضرت موسی په طریقه باندې د خپلې ګناه لپاره بښنه وغواړي امید دی چې الله ﷻ به ورته بښنه وکوي .

په بله دعاء کې حضرت موسی فرمایي :

رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ (١٧) [1]

ترجمه : ای زما ربه په حق د انعام فضل ستا پر ما (وساته ما) پس چې له سره زه هېڅ‌ري نشم مدد ګار د پاره د ګنهګارانو .

یعني چې تا د قبطي د قتل نه په خپل رحمت ماته بښنه وکوله اوس په خپل رحمت ربه ما ددښنه وساته چې زه د مجرمینو سره مرسته وکوم او دا معنی یې هم کېدای شي چې زه به له سره د مجرمانو مرسته نه کوم .

حضرت موسی ځان ته د تبلیغ د کار د اسانولو لپاره څه په عجیبو الفاظو سره دعاء کوي او فرمایي :

---

[1] سورة القصص آية ١٧

قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِیْ صَدْرِیْ (۲۵) وَ یَسِّرْ لِیْ اَمْرِیْ (۲۶) وَ احْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِیْ (۲۷) یَفْقَهُوْا قَوْلِیْ (۲۸) وَ اجْعَلْ لِّیْ وَزِیْرًا مِّنْ اَهْلِیْ (۲۹) هٰرُوْنَ اَخِی (۳۰) اشْدُدْ بِهٖ اَزْرِیْ (۳۱) وَ اَشْرِكْهُ فِیْ اَمْرِیْ (۳۲) كَیْ نُسَبِّحَكَ كَثِیْرًا (۳۳) وَّ نَذْكُرَكَ كَثِیْرًا (۳۴) اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِیْرًا (۳۵) [1]

ترجمه : ای ربه پرانیزه (فراخه کړه) ما لره سینه زما ، (یعني حوصله راکې پیدا کړه حلم راته زیات کړه چې غلط شی وینم زر غصه نشم) او اسان کړه ماته زما کار (چې تبلیغ دی) (یعني داسې اسباب راته برابر کړه چې دا لوی کار ماته اسان شي) او خلاصه کړه غوټه له ژبې زما چې خلک زما په خبر وپوهیږي (کل چې زه دوی ته تبلیغ کوم) (د موسی ژبه په وړکتوب کې سوزېدلې وه او په صفا ډول سره یې خبرې نشوای کولی) او وګرځوه ماته یو وزیر (کمک کونکی) زما له اهل څخه هارون چې زما ورور دی (هارون په عمر کې د حضرت موسی نه مشر وو) قوي کړه په ده سره زما ملا او شریک کړه دغه هارون لما سره زما په کار کې لپاره ددې چې تسبیح ووایو ستا (تسبیح ډېره) او یاد کړو تا په ذکر ثناء سره ډېر (یعني چې دواړه یو ځای شو د تبلیغ په ځای کې به په زور او شور سره

[1] سورة طه آیة ۲۵ تر ۳۵

ستا لويي بيان کړو او ستا ذکر به وکوو) بېشکه ته زمونږ په احوالو باندې ښه خبر دار او لېدونکی يې .[1]

د سخت کار (دعوت تبليغ) د اسانه کولو لپاره د حضرت موسی دا دعاء په سرو زرو د ليکلو وړتيا لري او په اوس وخت کې هم چې کله مبلغ د خپل تقرير په سر کې شروع پدې آيتونو سره وکوي اميد دی چې د هغه په خبرو کې به ښه تاثير واچول شي ډېره ښکلې دعاء ده .

حضرت موسی چې کله له کوه طور نه را وګرځېدو ويې ليدل چې قوم يې د خوسي عبادت شروع کړی وو نو په غصه کې يې خپل ورور را ونيولو او ورته ويل يې چې تا دا قوم وليدل چې د خوسي (سخي) عبادت يې کاوه او تا نه منع کول ... ؟ نو وروسته يې چې غصه يخه شوه نو بيا يې خپل ځان ته او خپل ورور ته دعاء کوله او فرمايل يې :

رَبِّ اغْفِرْ لِیْ وَ لِاَخِیْ وَ اَدْخِلْنَا فِیْ رَحْمَتِکَ وَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ (۱۵۱)

ترجمه : ای ربه زما بښنه وکړه ماته (په غصه کې ددې عمل چې له خپل مشر ورور سره مې وکولو) او بښنه وکوه زما ورور ته (که يې تقصير کړی وي د خوسي د عبادت نه په منع کولو کې) او مونږ په خپل رحمت کې داخل کړه (چې په دنيا

---

[1] کابلی تفسير

کې پاکي او په آخرت کې جنت دی) او همدا دا ته مهربان يې له ټولو مهربانانو څخه .

کله چې د موسی قوم وویل چې مونږ پدې یقین نه لرو چې دا ته کوه طور ته ځې او له هغه ځای نه مونږ ته د الله ① خبرې راوړې ترڅو مونږ دا خبرې پخپله وانه ورو نو موسی د خپل قوم په مشرانو کې ۷۰ کسان خوښ کړل دا يې له ځان سره د طور غره ته روان کړل دوی هلته د الله ① خبرې واورېدې بيا يې وويل : داسې مو هم ښه يقين نه راځي ترڅو مونږ الله ① پخپله د پردې نه بغير په خپلو سترګو ونه وينو نو ددې بې ا دبي او ګستاخي په کولو الله ① دوی ته غصه شو له زمکې نه وربانديې زلزله راغله او له اسمان څخه وربانديې سخت د تندر آواز وشو چې ټول يې داسې وغورځېدل لکه مړي او يا په رښتيا مړه شول نو موسی چې ولیدل ده چې کوم د قوم مشران راوستلي وو هغه ټول مړه شول نو که اوس قوم ته بېرته لاړ شي او هغوی ته وايي چې مشران ټول مړه شول دا قوم خو به يې ټول بغاوت وکوي بيا خو دده دعوت نه مني نو دعاء ئې وکوله ...

رَبِّ لَوۡ شِئۡتَ اَہۡلَکۡتَہُمۡ مِّنۡ قَبۡلُ وَ اِیَّایَ ۚ اَتُہۡلِکُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَہَآءُ مِنَّاۚ اِنۡ ہِیَ اِلَّا فِتۡنَتُکَ ۚ تُضِلُّ بِہَا مَنۡ تَشَآءُ وَ تَہۡدِیۡ

مَنۡ تَشَآءُ ؕ اَنۡتَ وَلِيُّنَا فَاغۡفِرۡ لَنَا وَ ارۡحَمۡنَا وَ اَنۡتَ خَيۡرُ الۡغٰفِرِيۡنَ (۱۵۵) [1]

ترجمه : ای ربه زما که اراده فرمایلې وی تا (د هلاکولو د دوی نو) هلاک کړي به دې وو دوی پخوا له دې نه او زه به دې هم (هلاک کړی وم) آیا هلاکوې ته مونږ په هغه کار چې کړی دی بې عقلانو له مونږه ؟ نه دی دا کار مګر آزمویښت دی ستا ګمراه کوې په دې سره یا الله ① ! هر هغه څوک چې اراده یې وکړې ته (د ضلالت) او هدایت کوې ته (یا الله ①) هر هغه چا ته چې اراده یې وکړې ته (د هدایت یې) همدا ته یې ولي (واکدار) زمونږ نو ښښنه وکړه مونږ ته (د ګناهونو زمونږ او رحمت وکړه پر مونږ او هم دا ته ئې بهتر غوره د ټولو ښښونکو .

بیا یې مخکې په خپله دعاء کې زیاته کړه :

وَ اكۡتُبۡ لَنَا فِىۡ هٰذِهِ الدُّنۡيَا حَسَنَةً وَّ فِى الۡاٰخِرَةِ اِنَّا هُدۡنَاۤ اِلَيۡكَ [2]

ترجمه : او ولیکه (مقرر کړه) مونږ ته په ژوندون لږ کې نیکي (ښه ژوند د اطاعت د توفیق سره) او په آخرت کې هم نیکي (جنت) بېشکه مونږ راجع (او توبه ګار) شوي یو تاته .

په بل ځای کې حضرت موسی په خپله دعاء کې د فرعون د ژوند په اړه الله ① ته فرمایي چې دهغه

---

[1] سورة الاعراف آية ۱۵۵
[2] سورة الاعراف آية ۱٦٦

بادشاهي ده او د دنيا هر ډول رونق د هغه سره دی په هغه باندې چې ترڅو عذاب رانشي هغه ایمان نه راوړي یا الله ﷻ څه ډول یې په عذاب کې را ونیسه موسی په خپله دعاء کې فرمایل :

رَبَّنَا اِنَّکَ اٰتَیْتَ فِرْعَوْنَ وَ مَلَاَهٗ زِیْنَةً وَّ اَمْوَالًا فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۙ رَبَّنَا لِیُضِلُّوْا عَنْ سَبِیْلِکَ ۚ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰی اَمْوَالِهِمْ وَ اشْدُدْ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ فَلَا یُؤْمِنُوْا حَتّٰی یَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِیْمَ (۸۸) [1]

ترجمه : ای زمونږ ربه بېشکه تا ورکړی دی فرعون او نورو سردارانو د هغه ته زینت (رونق او تازګي) او مالونه په دغه ژوندون لږ خسیس کې ای زمونږ ربه (ورکړي دې دي دوی ته دغه ا موال) د پاره د دې چې ګمراه کړي دوی (خلق) له لیاري ستا نه ا ی ربه زمونږ محوه (کړه هلاک او مسخ) راوله پر اموالو د دوی او سختي راوله په زړونو د دوی نو ایمان نه راوړي دوی تر هغه چې وویني دوی عذاب دردناک .

د ایوب دعاء

حضرت ایوب ته الله ﷻ په ژوند کې هر ډول سهولتونه او اسانتیاوې ورکړې وې او هرډول نعمتونه ورسره وو وینزې، غلامان، اولادونه ، فصلونه، کښت ، غلي میږمن ښي زمکي لکن یو دوم

[1] سورة یونس آیة ۸۸

وربانډي د الله ﷻ امتحان راغلو مالونه يې هلاک شول، کښتونه يې وسوزېدل، اولادنه يې تر را غورځېدلي چت لاندې مړه شول په بدن يې داني را وختلې هغې بيا چينجي وکول او ټول خپلوان او دوستان ورڅخه بېزار شول لکن ايوب لکه چې په مالداري کې شکر ايستونکی وو په تکليف کې يې هم په همدې ډول باندې صبر کونکی وو په ټولو خپلوانو کې يوه د وفا نه ډکه مېرمن ورته پاتې شوه چې له ده سره وه او دده خدمت يې کاوه پدې وخت کې دده نېږدې خلک چې وو هغوی هم داسې خبرې شروع کړې چې دا ايوب ( ) به څه ګناه کړي وي چې الله ﷻ وربانډي داسې آفتونه راوستل او دی هم په خپله بيماري کې ډېر مجبور وو نو د الله ﷻ له دربار نه يې وغوښتل :

اَنِّیۡ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَ اَنۡتَ اَرۡحَمُ الرّٰحِمِیۡنَ (۸۳) [1]

ترجمه : بېشکه زه چې يم رسېدلی دی ماته ضرر (رنځ او سختي په بدن کې) او ته ډېر مهربان يې له مهربانانو څخه .

ددې دعاء نه وروسته الله ﷻ فرمايي چې مونږ دده دعاء ورته قبوله کړه او له هرې خوا نه وربانډي د رحمت دروازې را خلاصې شوې دده سره په خوا کې الله ﷻ ورته د پاکو اوبه چينه را پيدا

[1] سورة الانبياء آية ۸۳

کړه چې په هغې کې يې ولمبل د بدن ټولې بيمارۍ يې ختمې شوې الله ﷻ بېرته ورته مالداري ورکړه او له مخکې څخه يې زيات اولاد ورکړو او ژوند يې بېرته جوړ شو .

نو اوس هم چې څوک بېمار شي او الله ﷻ ته سوال کوي چې دده څخه دا بيماري ختمه کړي د حضرت ايوب پورتنۍ دعاء ډېره زياته ښکلې ده چې پدې باندې د الله ﷻ څخه دعاء وغواړي امید دی چې الله ﷻ به ورته شفاء ورکړي .

په بل ځای کې حضرت ايوب په خپله دعاء کې فرمايي :

اَنِّیۡ مَسَّنِیَ الشَّیۡطٰنُ بِنُصۡبٍ وَّ عَذَابٍ (۴۱) [1]

ترجمه : بېشکه زه چې يم مس کړی يم زه شيطان په ايذاء او تکليف سره .

حضرت ايوب د خپلې بيماري نسبت شيطان ته ځکه کړی دی چې په قرآن کريم کې مختلف ځايونه داسې دي چې کوم کار د شر وي او يا پکې تکليف وي او يا څه شه کار نه وي نو دهغه نسبت شيطان ته کيږي لکه په سورة کهف کې په يوه قصه کې چې وايي دا خبره لما څخه شيطان هېره کړه .

د حضرت سليمان دعاء

[1] سورة ص آية ٤١

حضرت سليمان د ځان لپاره دعاء کوله چې ده ته الله ① ښښنه وکوي او ده ته ډېره عالي بادشاهي ورکړي حضرت سليمان په خپله دعاء کې فرمايل :

رَبِّ اغْفِرْ لِیْ وَ هَبْ لِیْ مُلْکًا لَّا یَنْۢبَغِیْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِیْۚ اِنَّکَ اَنْتَ الْوَهَّابُ (۳۵)

ترجمه : ای ربه زما مغفرت وکړه او ښښنه وکړه ماته او راکړه ماته داسې ملک لوی سلطنت چې نه شائیږي (او نه وي) بل هېڅا لره وروسته له ما (او غیر له ما) څخه ، بېشکه هم دا ته (ای زما ربه!) ته ډېر ښښونکی ورکونکی یې .

د حضرت سليمان چې کومه بادشاهي وه هغه بل چاته نه ورکړل شوېده او نه به ورکړله شي باد ورته مسخر وو پېریان او مارغان یې په فوځ کې داخل وو .

په بل ځای کې حضرت سليمان خپل ځان ته دعاء کوله او فرمایل یې :

رَبِّ اَوْزِعْنِیْۤ اَنْ اَشْکُرَ نِعْمَتَکَ الَّتِیْۤ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ وَ عَلٰی وَالِدَیَّ وَ اَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَ اَدْخِلْنِیْ بِرَحْمَتِکَ فِیْ عِبَادِکَ الصّٰلِحِیْنَ (۱۹) [1]

ترجمه : ای ربه زما الهام وکړه (را په برخه کړه) ماته دا چې شکر وکړم د نعمت ستا هغه چې

[1] سورة النمل آية ۱۹

انعام کړی دی تا پر ما او پر مور پلار زما او بل دا چې کوم زه عمل نېک چې (په فضل خپل سره) خوښوي ته هغه او ننه باسه ما (او یو ځای کړه ما) په رحمت خپل سره په (هغو) بندګانو خپلو کې چې صالحان دي .

په پورتنۍ دعاء کې حضرت سلیمان ښکاره کوي چې په ده باندې د الله ① انعامونه او احسانونه ډېر زیات دي دی به خپله ددې قابل نه شي چې د الله ① شکر اداء کړلی شي نو په دعاء کې د الله ① نه غواړي چې ده ته ددې توفیق ورکړي چې د الله ① شکر اداء کړي .

د حضرت زکریا دعاء

د حضرت زکریا چې کله وېښته سپین شول او نارینه اولاد یې نه وو نو د الله ① نه یې وغوښتل چې ده ته یو وارث ورکړي حضرت زکریا په خپله دعاء کې فرمایل :

رَبِّ اِنِّیۡ وَہَنَ الۡعَظۡمُ مِنِّیۡ وَ اشۡتَعَلَ الرَّاۡسُ شَیۡبًا وَّ لَمۡ اَکُنۡۢ بِدُعَآئِکَ رَبِّ شَقِیًّا (۴) وَ اِنِّیۡ خِفۡتُ الۡمَوَالِیَ مِنۡ وَّرَآءِیۡ وَ

كَانَتِ امْرَاَتِیْ عَاقِرًا فَهَبْ لِیْ مِنْ لَّدُنْکَ وَلِیًّا۝(۵) یَّرِثُنِیْ وَ یَرِثُ مِنْ اٰلِ یَعْقُوْبَ ۖ وَ اجْعَلْهُ رَبِّ رَضِیًّا (۶) [1]

ترجمه : بېشکه زه چې يم سست ضعيف شوي دي ټول هډوکي له ما څخه او شعلې وهي سر زما له جهته د سپين والي حال دا چې هېڅېرې نه يم پاتې شوی په سوال (زما) له تانه ای زما ربه محروم نا اميده او بېشکه زه وېرېږم له دې خپلوانو (خپلو) له وروسته (د مرګه) زما (د خرابوالي د دين ستا) او ده ښځه زما شنډه نو وښښه ماته له طرفه خپله يو متولي (د ديني امورو حق وارث) چې ميراث يوسي له ما څخه (ديني امور) او ميراث يوسي (د علم او حکمت) له آل يعقوب نه او وګرځوي دی ای ربه زما غوره کړل شوی.

کابلی تفسير ددې دعاء په تفسير کې وړاندې زياتوي چې دده اقارب او خپلوان او تربوران به نا اهله وو او ده ته به ويره پيدا شوې وه چې دغه خلک به وروسته له ما له خپلو بدو عملونو او غلطو چارو د دين او نيکي ليارې خرابه کړي او هغه ديني اوروحاني دولت چې الله ① د يعقوب کورنی ته ورکړی دی او تر حضرت زکريا پورې رسېدلی دی په خپلو شرارتونو او بد تميزيو سره ضائع کړي .

[1] سورة مريم آية ٤ تر ٦

په بل ځای کې حضرت زکریا د نېک اولاد لپاره دعاء کوي او فرمایي :

رَبِّ هَبْ لِیْ مِنْ لَّدُنْکَ ذُرِّیَّةً طَیِّبَةً ۚ اِنَّکَ سَمِیْعُ الدُّعَآءِ (۳۸) [1]

ترجمه : ای ربه را وښه ! (راکړه) ماته له نزده خپله اولاد ښه پاکیزه! بېشکه ښه آورېدونکی (قبلوونکی) د دعاء ئې .

حضرت زکریا ددې دعاء په وخت کې بیخي سپین ږیری او د ۱۲۰ کلونو وو او مېرمن یې د ۹۸ کلونو وه او بیخي شنډه وه (د اولاد د پیدا کولو وړ نه وه) نو ددې املې د اولاد د پیدا کېدو هېڅ امید نه وو پاتې د بي بي مریم په اړه یې د نا اشنا شیانو په لیدلو (لکه د هغې سره بې موسمه مېوې پیدا کېدل او داسې نور) نو د زکریا په زړه کې جوش را پیدا شو او سم د لاسه یې په زړه کې را وګرځېده ماته هم ښایي الله ① داسې اولاد راکړي چې (په دیني امورو کې) زما وراثت وکوي که زه د الله ① نه سوال وکوم نو یې د الله ① څخه وغوښت . [2]

په بل ځای کې حضرت زکریا فرمایي :

رَبِّ لَا تَذَرْنِیْ فَرْدًا وَّ اَنْتَ خَیْرُ الْوٰرِثِیْنَ (۸۹) [3]

---

[1] سورة آل عمران آیة ۳۸
[2] کابلی تفسیر
[3] سورة الانبیاء آیة ۸۹

ترجمه : ای ربه زما مه پرېږده ما یوازې (بې اولاده) او ته ئې غوره له له ټولو وارثانو .

یعني داسې اولاد راکړه چې زما وروسته د قوم دیني خدمت وکوي او په دیني امورو کې زما وارث پاتې شي او زما دیني وراثت چې د یعقوب نه ماته را رسېدلی دی ددې وارث پاتې شي اوس هم چې د چا اولاد نه کیږي چې هر وخت دا دعاء لولي نو تجربې ثابته کړېده چې ډېره فایده منه ده او امید دی چې ددې دعاء په ویلو سره الله ① ورته اولاد ورکړي لکه حضرت زکریا ته یې چې ورکړی وو .

د حضرت عیسی دعاء

کله چې حواریینو د حضرت عیسی څخه وغوښتل چې دوی ته له الله ① نه وغواړه چې له اسمانه یو دسترخوان چې نمعتونه وربانديې تیار ایښې وي مونږ غواړو چې د اسمان په نعمتونو باندې تبرک حاصل کړو او له هغه څخه خوراک وکوو او زمونږ زړونه مطمئن شي نو حضرت عیسی په خپله دعاء کې د الله ① څخه د حواریینو لپاره د دسترخوان سوال وکولو او ویې فرمایل :

اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا لِّاَوَّلِنَا وَ اٰخِرِنَا وَ اٰيَةً مِّنْكَ ۚ وَ ارْزُقْنَا وَ اَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ (۱۱۴) [1]

ترجمه : ای الله ① زمونږ ربه را نازله (سکته) کړه پر مونږ باندې ډکه خونچه (دسترخوان) له (طرفه د) آسمانه چې شي (وخت د نزول د دغې ډکې خونچې) مونږ ته اختر له پاره د ړومبنیو زمونږ او د وروستنیو زمونږ او (بل دا چې دغه خونچه) دلیل له تا نه (ستا په قدرت او زما په نبوت او صداقت) او روزي راکړه مونږ ته او هم ته ئې (خیر) غوره د روزي ورکوونکو.

د محمد رسول الله ❁ دعاء

یادګیرنه: د محمد رسول الله ❁ او د ټولو پیغمبرانو دعا ګانې زمونږ لپاره یو سبق دی چې زده یې کړو او په کومه طریقه چې دوی دُعا ګانې کړې وي په هماغه ډول یې وکوو او رسول الله ❁ خو به اکثر دعاګانې د تعلیم په موخه هم کولې چې صحابه کرام یې ترې زده کړې نو چې کله هم مونږ دعاء ته لاس پورته کوو د رسول الله ❁ دعاګانې که وغواړو دا به غوره دعاء وي د همدې مقصد لپاره ما د کمپیوټر له څانګې نه وغوښتل چې د پښتنو ورونو د سهولت لپاره باید دعاګانې

[1] سورة المائدة آية ۱۱٤

د اعراب (زور (زبر) زېر، پيش...) سره تايپ کړي.

رسول الله ﷺ به دا دعاء ډېره ويله :

اللهم رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ [1]

ترجمه : اى ربه راکړې مونږ ته په دنيا کې نيکي (خير او ښېګڼه) او راکړې په آخرت کې هم نيکي (خير او ښېګڼه) او مونږ د اور له عذاب نه وساته .

د حضرت عائشې نه روايت دى هغه فرمايي :

أَنّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُولُ : اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ ، وَشَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ ، اللَّهُمَّ نَقِّ قَلْبِي مِنْ خَطِيئَتِي كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ ، وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطِيئَتِي كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ ، وَالْهَرَمِ ، وَالْمَأْثَمِ ، وَالْمَغْرَمِ . [2]

ترجمه : بېشکه نبي ﷺ به ويل : اى الله ① زه پناه غواړم په تا باندې د اور له فتنې د اور له عذابه ، د قبر له فتنې او د قبر له عذابه

---

[1] **متفق عليه**

[2] متفق عليه

، د شر د فتني د غني والي او د شر د فتني د غربت ای الله ① زه په تا باندې پناه غواړم له فتني د دجال نه ای الله ① پاک کړه زما زړه له خطاګانو څخه لکه پاکیږي چې سپینه جامه له خیري نه او لرې والی راوله زما او زما د خطاګانو په مینځ کې (دومره زیات) لکه چې تا لرې والی راوستلی دی په مینځ د مشرق او مغرب کې ای ا لله زه په تا باندې پناه غواړم له سستیا نه او د ګناه له ځای نه او د تاوان له ځای نه .

رسول الله ❁ به دا دعاء هم لوستله :

اللَّهُمَّ إِنِّيْ أعُوذُ بِكَ مِنْ جَهْدِ البَلاء ، ودَرَكِ الشّـَقَاء ، وسـوء القضاء ، وشَمَاتَة الأعْدَاء .[1]

ترجمه : ای الله ① زه پناه غواړم له سختي د مصیبت نه او له شقي کېدلو نه او د بدې قضاء نه او د داسې حالت نه چې دښمنان مې په حال خوشحال شي .

رسول الله ❁ به دا دعاء هم کوله :

اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي، وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي، وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا

[1] متفق علیه

مَعَادِي، وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ، وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ [1]

ترجمه : ای الله ﷻ ماته زما دین اصلاح کړه کوم چې زما پاکي ده او زما لپاره زما دنیا اصلاح کړه په کومه کې چې زه ژوند کوم او زما لپاره زما آخرت اصلاح کړه چېرته چې زما ور ګرځېدل دي او زما لپاره ژوند په هر خیر کې د زیادت ذریعه وګرځوې او مرګ زما لپاره د هر ډول شر څخه راحت وګرځوې .

رسول الله ﷺ په دعاء کې ویل :

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى .[2]

ای الله ﷻ زه لتا څخه سوال کوم د هدایت ، او تقوی، او پاکي او غنی .

رسول الله ﷺ به دعاء کوله :

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ، وَالْكَسَلِ، وَالْجُبْنِ، وَالْبُخْلِ، وَالْهَرَمِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ، اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا، وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا .أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا. اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا .[3]

---

[1] رواه مسلم
[2] رواه مسلم
[3] رواه مسلم

ترجمه : ای الله ① زه په تا باندې پناه غواړم له عاجز کېدو ، له سستیا ، له بې زړه توب ، له بخل ، له ډېر زوړ والي، د قبر له عذابه ای الله ① زما نفس ته د هغه تقوی ورکړه او پاک يې کړه ته ښه پاکونکی د هغې يې ته زما د نفس متصرف او مولا يې ای الله ① زه پتا باندې پناه غواړم لداسې علم څخه چې بې فايدې وي لداسې زړه څخه چې عاجزي پکې نه راځي، لداسې نفس څخه چې نه مړيږي او له داسې دعاء څخه چې د هغې قبول نه وي (نه قبليږي) .

رسول الله ❁ فرمايل :

اللَّهُمَّ اهْدِنِي، وَسَدِّدْنِي، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالسَّدَادَ. [1]

ترجمه : ای الله ① ماته هدايت وکوه ما (ټينګ کړه په هدايت او سمه لاره) زه لتا څخه سوال کوم د هدايت او د ټينګتيا او استقامت .

د رسول الله ❁ يوه دعاء دا هم ده

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ ،وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ [2] .

ترجمه : ای الله ① زه په تا باندې پناه غواړم د شر د هغه عمل نه چې ما کړی وي او د هغه څخه چې ما نه وي کړی .

---

[1] رواه مسلم
[2] رواه مسلم

رسول الله ﷺ په دعاء کې فرمایل :

اللَّهُمَّ مُصَرِّفَ القُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ [1].

ترجمه : ای د زړونو اړوونکیه ذاته زمونږ زړونه په خپل طاعت (عبادت) باندې را واړوه .

رسول الله ﷺ فرمایل :

يَا مُقَلِّب الْقُلُوب ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينك [2]

ترجمه : ای د زړونو اړونکیه زما زړه په خپل دین باندې ثابت وساته د حضرت ام سلمة څخه روایت دی چې د رسول الله ﷺ په دعاء ګانو کې دا دعاء ډېره زیاته وه .

رسول الله ﷺ فرمایل :

اللهمّ أحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِي الأُمُورِ كُلِّهَا، وَأجِرْنَا مِنْ خِزْيِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الآخِرَةِ. [3]

ترجمه : ای الله ① ښه کړه آخره زمونږ په ټولو کارونو او هرڅه کې او مونږ د دنیا له شرمندګي او د آخرت له عذاب څخه وساته .

د حضرت انس ابن مالک نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایل :

---

[1] رواه مسلم
[2] رواه الترمذي
[3] رواه أحمد

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ ، وَالْجُنُونِ ، وَالْجُذَامِ ، وَمِنْ سَيِّئِ الأَسْقَامِ [1]

ترجمه : ای الله ﷻ زه په تا باندې پناه غواړم له برص (پیس / برګي) نه ، له لیونتوب نه او له جذام بیماري نه (یوه بیماري ده چې په بدن باندې ولګیږي د بدن غوښې پکې ریږیږي) او زه پناه غواړم په تا باندې له بدو بیمارۍو څخه .

رسول الله ﷺ فرمایل :

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ، وَالْأَعْمَالِ، وَالْأَهْوَاءِ [2]

ترجمه : ای الله ﷻ زه په تا باندې پناه غواړم له بدو خویونو له بدو عملونو او له بدو خواهشاتو نه .

حضرت عائشه فرمایي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکوله چې که زه پوه شم چې دا ليلة القدر ده نو کومه دعاء پکې ووایم؟ رسول الله ﷺ راته وویل :

اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ كَرِيمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي [3]

---

[1] رواه أبو داود والنسائي وأحمد والترمذى

[2] الترمذي وابن حبان

[3] رواه الترمذي

ترجمه : ای الله ① ته بښنه کونکی یې معزز یې عفو (بښنه) دې خوښیږي ماته عفو (بښنه) وکوه .

رسول الله ❁ په خپله دعاء کې فرمایل :

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ، وَأَنْ تَغْفِرَ لِي ،وَتَرْحَمَنِي، وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةَ قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ مَفْتُونٍ، وَأَسْأَلُكَ حُبَّكَ، وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُنِي إِلَى حُبِّكَ [1]

ترجمه : ای الله ① زه لتا څخه سوال کوم د (توفیق) د کولو د نېکو عملونو ، د پرېښودلو د بدو عملونو ، د مسکینانو د مینې، او دا چې ته ماته بښنه وکوې، پر ما رحم وکوې ، چې ستا اراده شي چې قوم په فتنه کې واچوې ما ترېنه پداسې حالت کې وفات کړه چې په فتنه کې نه وم واقع شوی ، ستا نه ستا د مینې سوال کوم ، او د هغه چا مینه غواړم چې تا سره مینه کوي او د داسې عمل د مینې سوال درنه کوم چې ما ستا مینې ته ور نېږدې کړي .

رسول الله ❁ فرمایل :

اللَّهُمَّ احْفَظْنِي بالإِسْلاَمِ قائِماً، واحْفَظْنِي بالإِسْلاَمِ قاعِداً، واحْفَظْنِي بالإِسْلاَمِ راقِداً، ولا تُشْمِتْ بِي عَدُوّاً ولا حاسِداً.

---

[1] رواه أحمد

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ كُلِّ خَيْرٍ خزائِنُهُ بِيَدِكَ، وأعُوذُ بِكَ مِنْ كُلِّ شَرَ خَزَائِنُهُ بِيَدِكَ [1]

ترجمه : ای الله ﷻ ما په اسلام باندې پداسې حال کې وساته چې زه ولاړ وم او پداسې حال کې مې په اسلام وساته چې زه ناست وم او په داسې حال کې مې په اسلام وساته چې زه ویده وم (په هرحالت کې مې په اسلام ټینګ وساته) او په ما باندې داسې حالت مه راوله چې لما سره کینه کونکی او یا زما دښمن خوشحال شي ای الله ﷻ زه ستا نه د هر هغه خیر سوال کوم چې خزانې ئې ستا په لاس کې دي او د هر هغه شر څخه پناه غواړم چې خزانې ئې ستا په لا کې دي .

رسول الله ﷺ به په خپله دعاء کې فرمایل :

اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُولُ بِهِ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ، وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ، وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مَصَائِبَ الدُّنْيَا ،اللَّهُمَّ مَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا، وَأَبْصَارِنَا، وَقُوَّاتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا، وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا، وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا، وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا، وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا ،وَلَا

[1] رواه الحاكم

تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا، وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا، وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا [1]

ترجمه : ای الله ① را تقسیم کړه (راکړه) مونږ ته ستا له وېرې نه دومره (په داسې ډول) چې زمونږ او ستا د ګناهونو په مینځ کې مانع شي (په زړه کې خپله دومره وېره را واچوې چې د هغې له امله مونږ بیا ستا ګناهونه ونه کوو) او راکړې له طاعت خپل نه دومره چې ستا جنت ته مو ورباندې ورسوې (د دومره طاعت کولو توفیق راکړه چې جنت ته زمونږ د ننوتلو سبب وګرځي) او په زړه کې دومره یقین راکړې چې په هغه سره په مونږ باندې د دنیا مصیبتونه سپک شي (د چا په زړه کې چې دا یقین ځای ونیسي چې د هر مصیبت په بدل کې په آخرت کې ثواب دی نو بیا هغه ته ددنیا مصیبتونه سپک ښکاره کیږي) ای الله ① مونږ ته زمونږ په غوږونو، سترګو او نورو قوو باندې تر هغه وخته فایده راکړې ترڅو چې مونږ ژوندي یو او دا زمونږ د ژوند تر آخره پورې زمونږ ملګرې کړه (زمونږ د مرګ نه وړاندې سامعه، باصره او نورې قوې له مونږ نه مه اخله) او وګرځوه زمونږ نیوکه په هغه چا باندې چې په مونږ یې ظلم کړی دی (داسې حالت مه راوله چې ظلم په مونږ یو چا کړی وي مونږ په

[1] رواه الترمذي

هغه جرم کې بل څوک ونيسو او بيا هغه ته په سزا ورکولو سره مونږ ظالمان شو) چا چې په مونږ ظلم کړی دی د هغه په مقابل کې له مونږ سره مرسته وکوه زمونږ په دين کې مونږ ته مصيبت مه راکوه (لداسې عمل او عقيدې نه مونږ وساته چې د هغې له امله زمونږ دين ته نقصان ورسيږي) دنيا زمونږ لوی مقصد مه ګرځوه (داسې مو مه کوه چې مونږ هرڅه کوو نو صرف د دنيا لپاره يې وکوو) زمونږ د علم آخري حد دنيا مه ګرځوه (داسې مو مه کوه چې زمونږ پوه او فکر هرڅه د دنيا تر شيانو پورې وتړل شي) او په مونږ باندې داسې څوک مه مسلط (حاکم) کوه چې هغه په مونږ باندې رحم نه کوي (ظالم کس په مونږ باندې مه مشر کوه) .

رسول الله ❁ په يوه دعاء کې فرمايي :

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ البُخْلِ، وَأَعوذُ بِكَ مِنَ الجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ العُمُرِ ،وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ [1]

ترجمه : ای الله ① زه په تا باندې پناه غواړم له بې زړه توب نه او زه په تا باندې پناه غواړم له بخل نه او زه په تا باندې پناه غواړم لدې نه چې زه په خپل ژوند کې داسې عمر ته پاتې شم

---

[1] رواه البخاري

چې زما اکثر حواس او قوې کار پربږدي (ډېر زور شم) او زه په تا باندې پناه غواړم د دنيا د فتنې او د قبر له عذاب نه .

رسول الله ﷺ فرمايي :

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي، وَجَهْلِي، وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي ،اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي هَزْلِي وَجِدِّي، وَخَطَئِي، وَعَمْدِي، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي [1]

ترجمه : ای الله ① ته وبښې ماته زما خطا، زما نا پوهي، په کوم کار کې زما اسراف او هغه چې ته په هغه باندې زما نه ښه خبر يې ای الله ① ماته را وبښه زما ټوکې او زما قصدي خطا زما خطايي خطا او زما قصدي خطا او دا ټول زما سره شته.

رسول الله ﷺ به کله په دعاء کې فرمايل :

اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ. فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ ،وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ [2]

ترجمه : ای الله ① ما په ځان باندې ډېر زيات ظلم کړی دی او ګناهونه يوازې ته بښې نو ته ماته له خپله ځانه بښنه وکوه او په ما باندې رحم وکوه بېشکه ته بښونکی او مهربان يې .

---

[1] رواه البخاري

[2] متفق عليه

د رسول الله ❁ يوه دعاء ده :

اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ .اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي ،أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ، وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ [1]

ترجمه : اى الله ① تاته تابع يم په تا باندې مې ايمان راوړى دى او پر تا مې توكل كړى دى او تاته راجع يم او په تا باندې مې جنګ كړى دى اى الله ① زه ستا په عزت باندې پناه غواړم نشته په حقه معبود مګر ته يې (پناه غواړم) له دې نه چې ما ګمراه كړې ته هغه ژوندى ذات يې چې تا له مرګ نشته او پېريان او انسانان (ټول) مړه كيږي .

په بله دعاء كې رسول الله ❁ فرمايي :

اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مُوجِباتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزائِمَ مَغْفِرَتِكَ، والسَّلامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ، والغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، والفَوْزَ بالجَنَّةِ، والنَّجاةَ مِنَ النَّارِ [2]

ترجمه : اى الله ① زه لتا نه سوال كوم سببونه د رحمت ستا (په ما كې داسې خويونه او صفتونه پيدا كړه او د داسې كارونو توفيق راكړه چې ستا د رحمت وړ شم او ستا رحمت را باندې وشي)

---

[1] **متفق عليه**

[2] رواه الحاكم

او زه لتانه سوال کوم چې ماته داسې اعمال راکړه چې د هغې له املې ستا د بښنې وړ و ګرځم او زه لتا څخه سوال کوم د سلامتیا له هرې ګناه څخه او له هرې نیکي نه غنیمت راکړه (توفیق راکړه چې هره نیکي وکوم او له هغې نه مې برخه وي) او لتانه سوال کوم د کامیابي په جنت (جنت ته د ننوتلو لپاره مې وړ کړې) او لتا نه سوال کوم د نجات له اور نه .

رسول الله ﷺ فرمایي :

اللَّهُمَّ اجْعَلْ أَوْسَعَ رِزْقِكَ عَلَيَّ عِنْدَ كِبَرِ سِنِّي وَانْقِطَاعِ عُمْرِي [1]

ترجمه : ای الله ﷻ په مابنديې رزق هغه وخت ډېر فراخ کړه چې عمر مې ډېر شي او زما د عمر د قطع کېدلو وخت شي.

رسول الله ﷺ فرمایي :

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَوَسِّعْ لِي فِي دَارِي، وَبَارِكْ لِي فِي رِزْقِي [2]

ترجمه : ای الله ﷻ ماته زما ګناه را وبښه ، کور مې راته ازاد کړه په روزي کې مې برکت واچوه .

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُك مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ، فَإِنَّهُ لاَ يَمْلِكُهَا إِلاَّ أَنْتَ [1]

---

[1] **رواه الحاكم**
[2] رواه أحمد

ترجمه : ای الله ① زه لتانه سوال کوم ستا د فضل او ستا د رحم څخه د فضل اور حم مالک هم ته یې.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَدْمِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ التَّرَدِّي، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْغَرَقِ ،وَالْحَرَقِ، وَالْهَرَمِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ يَتَخَبَّطَنِيَ الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ فِي سَبِيلِكَ مُدْبِرًا، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ لَدِيغًا [2]

ترجمه : ای الله ① زه په تا باندې پناه غواړم لدې نه چې له لوړ ځای نه را وغورځېږم ، یا څه را باندې را ړنګ شي، یا غرق شم، او یا وسوزېږم او په تا باندې پناه غواړم له دې څخه چې شیطان په ځانکدن کې راته خبرې وکوي (په ما باندې لوبې وکوي زما د ین او ایمان راته فاسد کړي) زه په تا باندې پناه غواړم لدې څخه چې پداسې حالت کې مړ شم چې شا مې کړې وي (یا له حق نه او یا په جهاد کې له جهاد نه ځکه په جهاد کې تېښته هم نا روا ده) او زه په تا باندې پناه غواړم چې زه پداسې حالت کې مړ شم چې زه چیچل شوی وم (د مار لړم او بل داسې شي په واسطه) .

---

[1] أخرجه الطبراني
[2] **رواه النسائي**

په مختلفو حالتونو کې دعاء کانې

د قرض نه د خلاصي لپاره دعاء

حضرت علي ته يو کس غلام مکاتب (چې خپل مالک ورځخه معلوم مبلغ غوښتی وو چې دی هغه مبلغ ورکړي دی به ازاد وي) راغلو ورته يې وويل : زما سره پدې پيسو کې مرسته وکوه چې زه يې خپل مالک ته ورکړم او آزاد شم حضرت علي ورته وويل : زه درته څه داسې کلمې ونه ښيم چې ما ته رسول الله ﷺ را ښودلي دي چې ته هغه کلمې ووايې که په تا باندې د غرونو په شان قرض وي الله ﷻ به يې درته خلا ص کړي بيا يې ورته وويل : دا کلمې وايه :

اللَّهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ [1].

ترجمه : ای الله ﷻ زما کفايت وکوه په هغه شيانو چې تا حلال کړي دي له هغه شيانو څخه چې تا حرام کړي دي (دومره حلال راکړه چې حرامو ته مې د خوراک ضرورت پيدا نشي) او ما په خپل فضل

[1] رواه الترمذي

سره د تا نه بغير د بل چا څخه غني کړه (چې د تا نه بغير بل چاته احتياج نه شم) .

د دښمن سره د مخامخ کېدو د وخت دعاء

د دښمن سره د مخامخ کېدلو د وخت دعاء مونږ ته الله ① په قرآن کريم کې را ښيي الله ① فرمايي :

رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْراً وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ [1]

ترجمه : ای زمونږ ربه نازل (راتوی) کړه پر مونږ صبر او کلک کړه قدمونه زمونږ (په جنګ کې) او مرسته وکړه له مونږ سره د کافرانو په مقابل کې .

په بل ځای کې فرمايي :

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ[2]

ترجمه : ای ربه زمونږ وبښه مونږ ته ګناهونه زمونږ او له حده تېرېدل زمونږ په (دې) کار زمونږ کې او ثابت (ټينګ کړه) قدمونه زمونږ (په طاعت خپل کې) او مرسته وکړه له مونږ سره د کافرانو په مقابل کې.

---

1 سورة البقرة آية ٢٥٠

2 سورة آل عمران آية ١٤٧

حضرت انس ابن مالک فرمايي رسول الله ﷺ به چې کله په غزا کې شروع کوله او چې کله به له دښمن سره مخام کېدو نو فرمايل به يې :

اللهم أنت عضدي ونصيري بك أحول وبك أصول وبك أقاتل .[1]

ترجمه : اى الله ① ته زما تکيه يې (ته زما د اعتماد ځای يې زه صرف تاته تکيه او پر تا باندې اعتماد کوم) او ته زما کمک کونکی يې ستا په مرسته زه حمله کوم او ستا په مرسته زه جنګېږم .

[1] رواه الترمذي و ابو داود

د چانه د وېرې په وخت دعاء

چې کله مونږ د چا څخه وډار شو ﷺ مونږ ته د هغه وخت ډېره قیمتي دعاء په قرآن کریم کې را ښیي ﷺ فرمایي :

حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ [1]

ترجمه : بس دی مونږ ته الله او ډېر ښه وکیل (کار جوړونکی دی) (الله)

د حضرت ابي موسی الاشعري نه روایت دی هغه فرمایي کله به چې رسول الله ﷺ له کوم سړي او له کوم قوم څخه خطر محسوس کولو نو فرمایل به یې :

اللَّهُمَّ! إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ . [2]

ترجمه : ای الله ﷺ مونږ تا د دوی مخې ته کړځوو (ته به دوی له مونږ څخه دفع کوې او مونږ به له دوی څخه ساتې) او مونږ په تا باندې پناه غواړو د دوی له شرونو څخه .

---

[1] سورة آل عمران آية ١٧٣
[2] رواه الإمام أحمد

له دښمنانو څخه د خلاص دعاء

کله چې په انسان پسې څوک شي او دی له هغوی څخه ډاریږي له الله ① نه غواړي چې ده ته له هغوی نه نجات ورکړي نو لاندې دعاء د ډېره وایي الله ① به نجات ورکړي انشاء الله .

رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ [1]

ترجمه : ای الله ① ماته له ظالم قوم څخه نجات راکړه .

د لارې د ورکېدلو د وخت دعاء

کله چې انسان چېرته روان وي او لاره ترې ورکه شي له الله ① نه غواړي چې ده ته سمه لاره وښيي په کومه باندې چې په تللو کې دده خیر وي نو لاندې دعاء ء د ولولي .

عَسَى رَبِّي أَنْ يَهْدِيَنِي سَوَاءَ السَّبِيلِ [2]

ترجمه : زر ده چې رب به مې راته سمه لاره را وښيي .

له الله ① نه د کمک غوښتلو دعاء

---

[1] سورة القصص آية ٢١
[2] سورة القصص آية ٢٢

کله چې د کفارو په مقابل کې مجاهد ته ځان کمزور ښکاره شي او د الله ﷻ نه غواړي چې له دوی سره مرسته وکوي نو لاندې دعاء د ډېره لولي امید دی چې الله ﷻ به ورسره مرسته وکوي .

رب إني مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ [1]

ترجمه : ای زما ربه زه مغلوب یم لما سره مرسته وکوه .

د مظلومیت د وخت دعاء

کله چې د کفارو کومه ډله په کوم ځای باندې حمله وکوي او هلته موجود مسلمانان کمزور وي د الله ﷻ نه مرسته غواړي چې د کفارو له لاس نه یې خلاص کړي لاندې دعاء د ډېره وایي الله ﷻ به یې ترې خلاص کړي .

عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكَافِرِين [2]

د عامې وېرې د وخت دعاء

د حضرت عبد الله ابن مسعود نه روایت شوی دی چې ده فرمایل : په لیلة الجن (هغه شپه چې رسول الله ﷺ پیریانو ته دعوت کولو) کې رسول الله

---

[1] سورة القمرآية ١٠
[2] سورة يونس آية ٨٥ او٨٦

❁ ولیدل چې عفریت (پیړی) را روان وو په لاس کې یې د اور شغله وه رسول الله ❁ د قرآن تلاوت ته دوام ورکړو لکن هغه بیا هم را روان وو پدې وخت کې جبریل راغلو رسول الله ❁ ته یې وویل زه داسې کلمې درته وښیم چې ته یې ولولې هغه به لتا څخه منع شي او اور به یې مړ شي؟ بیا یې ورته وویل دا دعاء ووایه :

أَعُوذُ بِوَجْهِ اللَّهِ الْكَرِيمِ ، وَبِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلا فَاجِرٌ مِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَعْرُجُ فِيهَا . وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَأَ فِي الأَرْضِ ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا ، وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ ، وَمِنْ شَرِّ طَوَارِقِ اللَّيْلِ ، وَمِنْ شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ إِلا طَارِقًا يَطْرُقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمَنُ[1]

ترجمه : زه پناه غواړم په ذات د الله ① معزز او په کلمو مکملو (اسماء الحسنی او یا قرآن کریم) هغه چې تجاوز تربنه نشي کولی نه نیک او نه فاجر له شر د هرشي نه چې له اسمانه را ښکته کیږي او هغه چې اسمان خواته پورته کیږي او له شر د هرشي نه چې په زمکه کې کیږي او له شر د هغه شي نه چې له زمکې نه را وزي او د شر د شپو او د ورځو د فتنو نه او له شر د شپې

[1] موطاء امام مالک رحمه الله

د هر راتلونکي نه مګر هغه چې د څه خير سره راشي ای مهربانه ذاته .

په ليلة الجن کې چې رسول الله ﷺ دا دعاء ولوسته د هغه عفريت پيري په لاس کې اور ګل شو او نور بيا رسول الله ﷺ ته را نږدې نشو .

دا دعاء په هغه ځای کې ډېره غوره دعاء ده چې انسان ته وهم ور غورځېدلی وي او يا له کوم شي څخه ډاريږي او يا له مختلفو شيانو څخه ډاريږي .

د تالندې او تندر د آواز په وخت دعاء

رسول الله ﷺ به چې کله د تالندې او تندر آواز واورېدو فرمايل به يې :

اللَّهُمَّ لا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ ، وَلا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ ، وَعَافِنَا قَبْلَ ذَلِكَ

[1]

ترجمه : ای الله ① مونږ په خپل قهر سره مه وژنه او ستا په عذاب مو مه هلاکوه او دهغه نه وړاندې (چه ستا عذاب او ستا قهر په مونږ راشي) مونږ ته بښنه وکوه .

د هر حاجت غوښتلو لپاره دعاء

[1] رواه الترمذي

د حضرت عبد الله بن ابي اوفى نه روايت دى هغه فرمايي : رسول الله ﷺ مونږ ته را ووتلو او ويې فرمايل : د چا چې تر الله ﷻ يا په انسانانو کې تر چا پورې کوم حاجت بند وي نو اودس د وکوي اوښه اودس د وکوي بيا د دوه رکعته مونځ وکوي د مانځه نه وروسته د د الله ﷻ حمد ووايي بيا د په نبي ﷺ باندې درود ووايي بيا د ووايي :

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ اللَّهُمَّ إِنِّى أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلاَمَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ أَسْأَلُكَ أَلاَّ تَدَعَ لي ذَنْبًا إِلاَّ غَفَرْتَهُ وَلاَ هَمًّا إِلاَّ فَرَّجْتَهُ وَلاَ حَاجَةً هي لَكَ رِضًا إِلاَّ قَضَيْتَهَا لي

ترجمه : نشته لائق د عبادت مګر يوازې الله ﷻ دى چې حليم دى او د کرم خاوند دى ، پاکي ده رب د عرش عظيم ته ، حمد او ثناء ده الله ﷻ لره چې رب د عالميانو دى، زه لتا څخه سوال کوم ستا د رحمت د اسبابو (په ما کې داسې صفات او خويونه پيدا کړه چې د هغې له امله په ما باندې رحمت وشي) زه لتا نه سوال کوم د داسې عملونو چې ستا ښښنه ماته وشي او سوال کوم د غنيمت له هرې نيکى نه (ماته توفيق راکړه چې هره نيکي وکوم) او سلامتيا له هرې ګناه نه ماته مه

پربږده ګناه مګر چې تا بښلې وي (ټول ګناهونه راته و بښه) او ماته مه پربږده هېڅ خفګان مګر چې تا لرې کړی وي (ټول غمونه مې لرې کړه) او ماته مه پربږده هېڅ داسې حاجت چې په هغه کې ستا رضاء وي مګر چې تا پوره کړی وي .

رسول الله ❁ فرمايي چې ددې دعاء نه وروسته هر ډول خپل حاجت وغواړي که د دنيا وي که د آخرت الله ① به يې ورته پوره کړي .

د واده د مبارکي ورکولو د وخت دعاء

د حضرت ابي هريره نه روايت دی هغه فرمايي د چا به چې واده شوی وو رسول الله ❁ به چې هغه ته مبارکي ورکوله نو ورته ويل به يې :

بَارَكَ اللَّهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي الْخَيْرِ . [1]

ترجمه : الله ① دې درته پکې برکت واچوي الله ① د په تاسې باندې خپل برکت نازل کړي او الله ① د تاسې دواړه په خير کې سره جمع کړي.

د ماشوم د مبارکي په وخت کې دعاء

[1] رواه الترمذي

د چا چې ماشوم شوی وي سنت ده چې هغه ته د مبارکي ورکولو په وخت کې دا دعاء ولوستل شي :

بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي الـمَوْهُوبِ لَكَ، وَشَكَرْتَ الوَاهِبَ، وبَلَغَ أشُدَّهُ، وَرُزِقْتَ بِرَّهُ . [1]

ترجمه : کومی شی چې تاته تحفه شوي الله ﷻ دې درته پکې برکت واچوي د هبه کونکې شکر وکړي (الله ﷻ دې پدې اولاد راضي کړه چې د الله ﷻ شکر وباسي یا د الله ﷻ درته د شکر توفیق درکړي) الله ﷻ دی دا پیدا شوی ماشوم ځوانی عمر ته ورسوي (الله ﷻ د ورته اوږد عمر ورکړي) الله ﷻ د درته مطیع او فرمانبردار وګرځوي .

ددې دعاء په ځواب کې مستحب ده چې د ماشوم پلار ورته ووایي :

بَارَكَ اللَّهُ لَكَ، وبَارَكَ عَلَيْكَ، وجَزَاكَ اللَّهُ خَيْراً، ورَزَقَكَ اللَّهُ مِثْلَهُ، وأجْزَلَ ثَوَابَكَ

ترجمه : الله ﷻ د تاته برکت درکړي او الله ﷻ د په تا باندې برکت نازل کړي الله ﷻ د اجر درکړي او الله ﷻ د تاته هم د همدې په شان در روزي کړي او الله ﷻ د ستا ثواب زیات کړي .

---

[1] الاذكار للنووي

کوربه ته دعاء

رسول الله ﷺ کوربه ته داسې دعاء کوله :

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ وَبَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ . [1]

ترجمه : ای الله ﷻ دوی ته بښنه وکوه په دوی باندې رحم وکوه کومه روزي چې تا دوی ته ورکړېده په هغې کې ورته برکت واچوه .

هغه چا ته چې د څښلو څه شی ورکړي دعاء

څوک چې چاته د څښلو شی ورکړي نو سنت ده چې هغه ته دعاء وکوي او و دې وایي :

اللَّهُمَّ أَطْعِمْ مَنْ أَطْعَمَنِي، وَاسْقِ مَنْ سَقَانِي [2]

ترجمه : ای الله ﷻ چا چې په ما خوراک کړی دی خوراک ورکړه او چا چې په ما څښاک کړی دی څښاک ورکړه .

په مجلس کې دعاء

د حضرت عبد الله ابن عمر څخه روایت دی هغه فرمایي : په یو مجلس کې مونږ په رسول الله ﷺ پسې شمار کړل هغه سل ځله دا دعاء ولوسته .

---

[1] مسند امام احمد ابن حنبل

[2] رواه مسلم

رَبِّ اغْفِرْ لِي، وَتُبْ عَلَيَّ، إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ

ترجمه : ای زما ربه ماته بښنه وکوه او زما توبه قبوله کړه بېشکه ته توبه قبلونکی او بښونکی یې .

د مجلس کفاره دعاء

د حضرت ابي هريره نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : څوک چې په کوم مجلس کې کيني او هلته يې عبث خبرې او آواز ونه زيات شي نو مخکې ددې چې ددې مجلس نه پاڅيږي دی ووايي : سُبْحَانَكَ **اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أن لاَ إِلَهَ إِلاّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ إِلاّ غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ في مَجْلِسِهِ ذَلِكَ** .[1]

نو پدې مجلس کې چې دده څخه هرشی شوي وي ده ته بښل کيږي .

د بيمار د پوښتنې د وخت دعاء

د حضرت عبد الله ابن عباس نه روايت دی رسول الله ﷺ فرمايل : څوک چې د بيمار په خوا کې دا دعاء ووايي :

---

[1] رواه الترمذي

أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ

ترجمه : د لوی الله ① نه سوال کوم چې د عرش عظیم رب دی چې تاته شفاء درکړي .
که هغه ته ددې بیماري نه شفاء په قسمت کې لیکلې وي نو جوړ به شي .

د بيمار دعاء

حضرت عائشه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته دهغه ﷺ تر وفات وړاندې غوږ ونيو هغه تکيه کړې وه او فرمايل يې : **اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الأعلى** . [1]

ترجمه : ای الله ① ماته بښنه وکوې او په ما باندې رحم وکوې او تر اعلى رفيق پورې مې پيوسته کړې (پدې حديث کې د الرفيق الاعلى په اړه مختلف اقوال دي غوره قول يې دادی چې مراد ترېنه مقربې ملائکې، علماء صالحين دي چې مخکې وفات شوي دي او يو قول دادی چې الحقني بالرفيق الاعلى معنى دا چې جنت ته مې ورسوه.
دا دعاء د هر هغه بېمار لپاره ويل سنت دي چې اميد ئې له دنيا او نور له ژوند څخه قطع شوی وي .

---

[1] صحيح البخاري

مړي ته دعاء

د حضرت عوف ابن مالک نه روایت دی هغه فرمایي : رسول الله ﷺ یوه جنازه وکوله بیا یي دعاء کوله ما هغه دعاء ورځخه یاده کړه چې فرمایل یي : **اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنْ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنْ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ أَوْ مِنْ عَذَابِ النَّارِ .**[1]

ترجمه : ای الله ① ده ته بښنه وکوي او رحمت وربانديي وکوي معاف ئي کړي د ورتلو ځای يي ورته ښه کړي کوم ځای ته چې دی ور ننوزي (قبر) هغه ورته فراخ کړي په يخو اوبو، واوره او يخ يي ووينځي له ګناهونو ځخه يي داسي پاک کړي لکه سپينه جامه له خيري نه ددي کور په ځای په آ خرت کي ښه کور ورکړي او په دنيا کي له اهل ځخه هلته ورته غوره اهل ورکړي په دينا کي له جوړي (مړمن) نه هلته ورته ښه جوړه ورکړي جنت ته يي ننباسي او د قبر له عذاب نه ورته پناه ورکړي ياد اور له عذابه . حضرت عوف ابن مالک فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ دا

[1] رواه مسلم، الترمذي، النسائي، ابن ماجه

دعاء واورېده ما په زړه کې وويل کاش دا مړی زه وای .

د مړي خپلوانو ته دعاء

امام نووي فرمايي چې د يو مسلمان کوم مسلمان خپلوان مړ شي نو چې هغه ته دعاء کوي نو پدې ډول دعاء به ورته کوي .

عْظَمَ الله أَجْرَكَ وَأَحْسَنَ عَزَاءَكَ وَغَفَرَ لِمَيِّتِكَ

ترجمه : الله ﷻ د تاته لوی اجر درکړي الله ﷻ د ښه صبر در کړي الله ﷻ د مړي ته ښښنه وکوه .

او چې کله د مسلمان کوم کافر خپلوان مړ شي هغه ته به داسې دعاء کيږي.

عْظَمَ اللَّهُ أَجْرَكَ وَصَبَّرَكَ

ترجمه : الله ﷻ د لوی اجر درکړي او الله ﷻ د تاته صبر درکړي .

او چې کله يو مسلمان وفات شي او د هغه کافر خپلوان ته دعاء کوي نو داسې به ورته وايي :

غَفَرَ الله لِمَيِّتِكَ وَأَحْسَنَ عَزَاءَكَ

ترجمه : الله ﷻ د ستا مړي ته ښښنه وکوي تاته هم ښه صبر غواړم .[1]

---

[1] المنهاج

د خفګان د وخت دعاء

د حضرت عبد الله ابن مسعود نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : کوم بنده چې په غم او خفګان کې ووايي:

اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ أَمَتِكَ نَاصِيَتِي بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوْ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي وَنُورَ صَدْرِي وَجِلَاءَ حُزْنِي وَذَهَابَ هَمِّي.[1]

ترجمه : ای الله ① زه ستا بنده یم او ستا د بنده زوی یم او ستا د ونیزې زوی یم زما اختیار ستا په لاس کې دی زما په اړه ستا حکم عملي دی زما په اړه ستا هره فیصله عدل دی زه لتا څخه سوال کوم په هر نوم چې هغه ستا وي تا وربانډې ځان نومولی وي او یا تا په خپل کتاب کې نازل کړی وي او یا تا په مخلوق کې یو چا ته ور ښودلی وي او یا دي په علم غیب کې ځان وربانډې خاص کړی وي (چې په دنیا کې چاته هم معلوم نه وي) (لتانه سوال کوم دا چې) ته قرآن کریم زما د زړه سپرلی وګرځوه ، زما د سینې رڼا یې وګرځوه ، زما د غم او هم د لرې کولو سبب یې کړه .

---

[1] **أخرجه أحمد**

رسول الله ❁ فرمايي چې څوک دا دعاء ولولي نو غم به يې لرې او ختم شي .

صحابه وو پوښتنه وکوله ويل يې يا رسول الله ❁ مونږ به دا کلمې زده کوو؟ رسول الله ❁ ورته وويل : هو چا چې واورېدې هغه يې بايد زده کړي ....

د سخت کار د اسانه کولو دعاء

کله چې په انسان باندې کوم کار سخت شي او له الله ① نه غواړي چې دا کار ورته اسانه کړي نو دا دعاء د ولولي اميد دی چې الله ① به يې ورته اسانه کړي .

اللَّهُمَّ لا سَهْلَ إلا ما جَعَلْتَهُ سَهْلاً وأنْتَ تَجْعَلُ الحَزَنَ إذا شِئْتَ سَهْلاً

ترجمه : ای الله ① اسانه کار نشته (هر کار سخت دی) مګر هغه چې تا اسانه کړی وي او ستا چې خوښه شي ته سخت کار هم اسانه کوې .

د دعاء د قبلېدلو اسباب

څرنګه چې په قرآن کريم کې الله ① فرمايي : تاسې لما څخه دعاء وغواړئ زه ستاسې دعاء قبلوم الله ① رښتيا وايي د هغه هره وعده رښتيا ده لکن چې بيا هم يو انسان فکر کوي چې دی دعاء غواړي او دعاء يې نه قبليږي دا نقصان به دده د دعاء په کولو کې وي او دده دعاء به په داسې حالت کې شوي وي چې هغه ددې وړ نه وي چې د قبول ځای ته ورسيږي او يا به ده دعاء په داسې ډول سره کړې وي چې هغه د قبول وړ نه وي پدې اړه علماوو ددې لپاره اسباب را پيدا کړي دي چې هغه له دعاء سره ملګري شي نو له دعاء سره د قبول ځای ته په رسېدو کې مرسته کوي او هغه اسباب په لاندې ډول دي :

لمړی سبب اخلاص

په دعاء کې به اخلاص وي څرنګه چې بنده د الله ① په دربار کې خپل لاسونه پورته کړې وي او دعاء غواړي پدې سره به خلکو ته ځان نه ورښکاره کوي په رښتيا به په اخلاص سره له الله ① څخه غواړي چې دا مصيبت پورته کړي او يا د ا مشکل حل کړي او يا دا نعمت ورکړي نو کله چې هم اخلاص له مينځه

لاړ شي لکه په لويو مجلسونو کې چې يو کس دعاء کوي او نور خلک دهغه دعاء ته غوږ نيسي او هغه کوښښ کوي چې په خپله دعاء کې مسجع او منظم الفاظ سره را ټول کړي او لغات پکې استعمال کړي نو د هغه دعاء کونکي ډېره توجه خپلو الفاظو ته وي او لږ توجه يې په رښتيا ددې مشکل حل ته وي چې دی د کوم لپاره دعاء کوي نو الله ﷻ ته دا دعاء نه ده خوښه الله ﷻ هغه دعاء خوښوي چې د دعاء په وخت کې ددعا کونکي سل په سلو کې توجه ټوله د الله ﷻ لوري ته وي او صرف د الله ﷻ دربار ته يې لاسونه پورته کړې وي الله ﷻ مونږ ته امر کوي چې د هغه نه په داسې حالت کې دعاء غواړو چې په زړونو کې اخلاص وي الله ﷻ فرمايي :

وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ [1]

ترجمه : د الله ﷻ پداسې حالت کې دعاء وغواړئ چې په دين کې هغه ته مخلص ياست .

په بل ځای کې الله ﷻ فرمايي :

فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ [2]

---

[1] سورة الاعراف آية ٢٩
[2] سورة غافر آية ١٤

ترجمه : دعاء وغواړئ له الله ① څخه پداسي حالت کي چي تاسي خپل دين صرف الله ① لره خاص او خالص کړی وي اګر که دا کافران ډېر بد ګڼي .

په بل ځای کي الله ① فرمايي :

هُوَ الْحَیُّ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ (۶۵) [1]

ترجمه : هم دی ژوندی دی تل په يو حال باقي قائم کامل تدبير لرونکی نشته بل هېڅوک لائق د عبادت مګر هم دی دی يوازي پس وبولئ هم دی په داسي حال کي چي خالص کونکي يئ تاسي دغه (الله ①) لره (د) دين (له شرکه) ټوله ثناء ده خاص الله ① لره چي رب پالونکی د ټولو عالميانو دی .

دعاء په پټه سره کول

د اخلاص له نښو څخه يوه دا ده چي انسان دعاء په پټه سره وکوي پداسي توګه چي چيغې پکي ونه وهي ځکه دا صرف له خپل رب نه غوښتل دي او هغه ورو آواز هم آوري الله ① فرمايي :

اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّ خُفْیَةً ؕ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ (۵۵) [2]

---

[1] سورة غافر آية ٦٥
[2] سورة الاعراف آية ٥٥

ترجمه : بولئ تاسي رب خپل (هروخت) په زاري او عذر او په پته سره (ځکه چې په پته بلل د اخلاص دليل دی) بېشکه چې الله ① نه خوښوي تېريدونکي (له شرعي حدونو په دعاء بلکه په هرڅه کې) .

په بل ځای کې الله ① فرمايي :

قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُونَهُ تَضَرُّعاً وَخُفْيَةً لَّئِنْ أَنجَانَا مِنْ هَـذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ [1]

ترجمه : ووايه (ای محمده!) څوک به خلاص کړي تاسي له تيارو د بر (وچې) او بحر (درياب څخه په هغه وخت کې چې) دعاء کوئ تاسي الله ① نه په سکاره او په پته سره (او داسي وايئ چې قسم دی) که خلاص کړي (الله) مونږ له دې تيارو (او سختيو) څخه نو خامخا شو به مونږ له شکر ايستونکو څخه (د نجات په دغه نعمت) .

په بخاري شريف کې يو حديث دی :

أنَّ النَّبي ❁ سمع الناس يصعَدُون في ثَنِيةٍ، فجعل رجلٌ كلما علا ثنيةً قال: لا إله إلا الله؛ فقال النَّبي صص: (اربَعُوا على أنفسِكم؛ أنكم لا تُناجُون أصمَّ ولا غائباً! إنما تدعون سميعاً قريباً. [2]

---

[1] سورة الانعام آية ٦٣

[2] صحيح البخاري

بېشکه نبي ❁ د خلکو آواز آورېدو چې په يو ځای (لوړه) باندې ختل نو يو کس به چې په هر لوړ ځای وختلو نو په زوره به يې آواز کړو لا إله إلا الله رسول الله ❁ ورته وويل : په خپلو ځانونو باندې رحم وکوئ (ځان ته په چغو وهلو سره تکليف مه ورکوئ) تاسې داسې چاته آواز نه کوئ چې هغه يا کوڼ دی ستاسې آواز نه آوري او يا هغه لتاسې سره ا وس موجود نه دی بېشکه تاسې آواز کوئ داسې ذات ته چې هغه آورېدونکی او نېږدې دی .

نو لنډه دا چې دعاء چې ځومره په پټه سره او په عاجزۍ سره وکوله شي قبلېدو ته ډېره نېږدې

وي امام سيوطي فرمايي : قال بعضُ السلف: دعوةٌ سراً أفضلُ من سبعين دعوةً جهراً وعلانيةً! . نفض الوعاء في أحاديث رفع اليدين في الدُّعاء

ترجمه : ځيني پخوانيو علماوو ويلي دي چې په پټه سره دعاء د اويا هغه دعاءګانو څخه غوره ده چې په زوره سره وکوله شي

امام حسن البصري فرمايي :

بين دعوةِ السرِّ ودعوةِ العلانية سبعون ضِعفاً، ولقد كان المسلمون يجتهدون في الدُّعاء وما يُسمَع لهم صوت

ترجمه : د پټې او ښکاره دعاء په مینځ کې اویا مرتبې دي یعني په پټه سره دعا اویا ځله تر ښکاره او په زوره دعاء څخه غوره ده او مسلمانانو به په دعاء کې کوښښ کاوه (اوږدې اوږدې دعا ګانې به یې کولې) لکن د هغوی آواز به نه آورېدل کېدو یعني دوی به صرف الله ① ته خپلې خبرې په پسپسک آواز سره کولې .

په پټه سره د دعاء کولو فایدې

۱. دا عبادت دی او ترڅو پورې چې کېدلی شي عبادتونه تر ښکاره څخه په پټه سره کول غوره دي .

۲. په پټه دعاء کې ا دب زیات وي لکه چې مونږ ظاهر ته هم وګورو نو د بادشاه په مخ کې چې هم مونږ خبرې کوو چې څوک په زوره چغې ووهي نو هغه ورته غصه کیږي ځکه تر ضرورت زیات آواز پورته کول یو قسم بې ادبي ګڼله کیږي نو الله ① چې زمونږ ډېر ورو آواز هم آورېدلی شي نو بیا په زوره چغو وهلو ته یې څه ضرورت دی .

۳. د دعاء لویه فایده دا وي چې د الله ① په وړاندې انسان خپله عاجزي او تواضع ښکاره کړي او دا کار په پټه سره چې صرف د بنده او الله ① په مینځ کې خبرې روانې وي ډېر په ښه توګه کېدلی شي ځکه هغه کس چې په زړه کې یې عاجزي

وي او د الله ﷻ په وړاندې عاجزي کوي هغه په داسې حالت کې دعاء کوي چې آواز يې شکته او په اندامونو يې د الله ﷻ د عاجزي اثر پروت وي او کله کله چې په انسان باندې عاجزي ډېره غالبه شي نو ژبه ودريږي بيا په ژبه باندې خبرې نه کوي خپل زړه پريږدي چې الله ﷻ ته خپل حال ووايي او په خوله چُپ وي لکن په دعاء کې مصروف وي او دا کار صرف په هغه حالت کې ممکن وي چې انسان په پټه سره دعاء کوي او چيغې نه وهي .

٤. په پټه دعاء سره مکمل اخلاص راتلل ممکن دي ځکه هلته ستا آواز بغير د الله ﷻ نه بل څوک نه آوري او د چا په وړاندې د ريا کولو او چاته د ورښکاره کولو صورت هلته نه وي .

٥. چې انسان پټې خبرې کوي نو هغه خپل زړه د الله ﷻ په وړاندې عاجزي کولو ته را ټولولی شي او الله ﷻ ته مکمله عاجزي وړاندې کولی شي د چغو په حالت کې دا ممکن نه وي .

٦ څوک چې پټه دعاء کوي نو ددې معنی داده چې ددې کس يقين پدې خبره باندې پوخ دی چې الله ﷻ ده ته تر هرڅه نېږدې دی او دا غوره يقين دی ددې امله خو الله ﷻ د حضرت زکريا ستاينه وکوله چې هغه په پټه سره الله ﷻ ته دعاء کوله الله ﷻ فرمايي :

إِذْ نَادَى رَبَّهُ نِدَاء خَفِيّاً [1]

ترجمه : چې کله يې خپل رب ته ا واز وکولو په پټه سره .

همدارنګه الله ① فرمايي زه بنده ته نېږدې يم (چې ماته آواز کوي د چغو وهلو ضرورت نلري) :

وَ اِذَا سَاَلَکَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ ؕ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ۙ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لِیْ وَ لْیُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُوْنَ (۱۸۶) [2]

ترجمه : او کله چې پوښتنه وکړي (ای محمده!) له تا څخه بندګان زما (له لرې والي او نېږدې والي) زما نو بېشکه زه نېږدې يم (دوی ته په علم او اجابت سره) قبلوم زه سوال د غوښتونکي په هغه وخت کې چې وبولي ما نو ښايي چې دوی هم ومني حکم زما (اطاعت) او ټينګ دې اوسي په ايمان په ما باندې ښايي چې دوی په سمه لاره محکم پاتې شي .

۷. هغه کس چې په پټه سره دعاء کوي که دعاء اوږده کړي او يا هر وخت دعاء کوي نو اندامونه به يې نه ستړي کيږي ، مړی به يې نه وچيږي ، ژبه به يې نه ستړې کيږي آواز به يې نه خرابيږي او هغه کس چې په زوره دعاء کوي او په خپله دعاء کې چيغې وهي نو د هغه به آواز بنديږي او ژبه به يې هم ستړې کيږي نو په

---

[1] سورة مريم آية ۳
[2] سورة البقرة آية ۱۸٦

پټه سره دعاء کوونکی تر په زوره دعاء کونکي څخه اوږده دعاء کولی شي .

۸. په پټه سره دعاء کول انسان تر اوږده وخته پورې کولی شي ځکه انسان چې ناست وي او په پټه سره د الله ﷻ سره خبرې کوي نو هېڅوک وربانديې نه خبرېږي او نه چاته دده د آواز له امله تکليف رسيږي او چې کله انسان په خپله دعاء کې چيغې وهل شروع کړي نو خلک وربانديې خبر شي کېدای شي دده له آواز نه چاته تکليف وي او هغه دده څخه وغواړي چې دعاء نوره بس کړي او پدې ډول د په زوره دعاء لپاره ډېر اسباب کېدلی شي چې هغه د بنده شي او د پټې دعاء لپاره دومره مشکلات نه وي.

۹. هر نعمت چې الله ﷻ انسان ته ورکړي نو کينه کونکي له هغه سره کينه کوي نو دا چې يو انسان الله ﷻ ته لاس پورته کړې وي او دعاء کوي دا هم د الله ﷻ يو لوی نعمت دی هسې نه چې ددې امله له ده سره څوک کينه وکوي او په پټه سره په دعاء کولو کې د بل چا د خبرېدلو احتمالات کم وي نو د کينه کوونکو د کينې احتمال هم کم وي حضرت يعقوب هم غوښتل چې خپل زوی يوسف د کينه ګرو له کينې څخه وساتي او ورته فرمايل يې :

يَا بُنَيَّ لاَ تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَى إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُواْ لَكَ كَيْداً [1]

ترجمه : اى بچيه دا خپل خوب دې ورونو ته مه وايه هسې نه چې څه چل درته جوړ کړي چل .

۱۰ دعاء هم د الله ① يو ډول ذکر کول دي ځکه په دعاء کې هم الله ① يادېږي د الله ① حمد ويل کيږي او د هغه ستاينه کيږي او بيا ورڅخه سوال کيږي او دا سوال کول هم د الله ① لويي بيانول دي ځکه چې بنده له الله ① نه سوال کوي پدې يې يقين وي چې الله ① ماته هغه څه راکولی شي چې زه يې ورڅخه غواړم نو دا هم د الله ① يو ډول ذکر دی او ذکر هغه وخت ډېر غوره وي چې په پټه سره وي الله ① هم هغه ذکر خوښوي چې په تنهايي او پټه کې وشي ددې امله الله ① هم امر کوي چې د الله ① ذکر په پټه سره کوئ الله ① فرمايي :

وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَخِيفَةً [2]

ترجمه : او ياد کړه رب خپل د خپل ځان سره په عاجزي سره او په پټه سره .

د دعاء د قبول

---

[1] سورة يوسف آية ٥
[2] سورة الاعراف آية ٢٠٥

دوهم سبب له الله ﷻ نه مرسته غوښتل

د دعاء کونکي دعاء هغه وخت قبلیږي چې د الله ﷻ نه بغیر یې له بل هیڅوا څخه دده د دعاء د پوره کولو امید نه وي او صرف په الله ﷻ یې یقین ، اعتماد او بروسه وي چې زما دعاء پوره کولی شي نو پداسې حالت کې ددې دعاء کونکي دعاء د قبول ځای ته د رسیدو سره ډیره لائقه ده الله ﷻ دهغه چا دعاء خوښه وي چې صرف له ده څخه یې غواړي او هغه کسان چې د الله ﷻ نه بغیر یې چاته تمه وي چې ده ته به څه ورکړي او یا یې ترښنه غواړي نو الله ﷻ د هغه کس دعاء نه خوښوي او د هغې په اړه الله ﷻ فرمایي :

يَدْعُو مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُ وَمَا لَا يَنفَعُهُ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ يَدْعُو لَمَن ضَرُّهُ أَقْرَبُ مِن نَّفْعِهِ لَبِئْسَ الْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ الْعَشِيرُ. [1]

ترجمه : غواړي دی (عبادت کوي مشرک) غیر له الله ﷻ د هغه څه چې نه ضرر رسولی شي ورته (که ئې عبادت ونه کړي) او د هغه چې نه نفع رسولی شي ورته (که ئې عبادت وکړي) دغه (عبادت د ماسوی الله) هم دغه ګمراهي ده ډیره لرې (له حقه) بولي

[1] سورة الحج آية ١٢ او ١٣

دوی (عبادت کوي مشرکان) د هغه (معبود) چې ضرر د هغه (عابد ته ئې) ډېر نېږدي دی له کټې د هغه (معبود دغه عابد ته چې د شفاعت هیله (امید) ده خامخا بد دوست دی (دا بت) او خامخا بد ملګری دی (دا بت) .

نو هغه کسان چې الله ﷻ ته په څه مشکل کې لاس پورته کوي او له هغه څخه غواړي چې دده دعاء قبوله کړي هغه به خپله عقیده داسې ساتي چې زه پخپله هېڅ نشم کولی لکه الله ﷻ چې فرمایي :

قُل لاَّ أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرّاً وَلاَ نَفْعاً إِلاَّ مَا شَاء اللّهُ [1]

ترجمه : ووایه (ای محمده!) نه یم مالک د پاره د ځان خپل (د دفع کولو) د ضرر او نه (د رسولو د نفع) مګر د هغې (نفع او ضرر) چې اراده یې وفرمایي الله ﷻ.

او همدارنګه دا عقیده به هم ساتي چې زما دعاء صرف الله ﷻ پوره کولی شي او بل هېڅوک یې نشي پوره کولی یعني نه زه څه کولی شم او نه نور خلک څه کولی شي یوازې الله ﷻ دی چې دا مشکل حل کولی شي او یا دا شی ماته راکولی شي الله ﷻ فرمایي :

قُلِ ادْعُواْ الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلاَ يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلاَ تَحْوِيلاً [1]

---

[1] سورة يونس آية ٤٩

ترجمه : ووايه (اى محمده! دوى ته) چې وبولئ تاسې هغه معبودان چې ګمان پرې کوئ (د خدايانو) بې له الله [1] څخه نه لري دوى اختيار د لرې کولو د ضرر له تاسې څخه او نه د ګرځولو (د ضرر بل چا ته)

امام ابن رجب فرمايي :

أما الاستعانةُ بالله عزَّ وجل دون غيرِه من الخلقِ؛ فلأنَّ العبدَ عاجزٌ عن الاستقلالِ بجلبِ مَصالِحِه ودَفعِ مَضارِّه ولا مُعينَ له على مصالِحِ دينِه ودُنياه إلا الله عزَّ وجلَّ؛ فمَن أعانَه الله فهو المعانُ، ومن خذلَه فهو المخذول، وهذا تحقيق معنى قول: (لا حولَ ولا قوةَ إلا بالله)

ترجمه : او دا چې انسان به صرف د الله [1] نه يو شى غواړي له بل چا نه دكوم مخلوق نه به يې نه غواړي دا ځكه چې بنده خپله نشي كولى ځان ته خير ورسوي او له ځان څخه شر او ضرر ناک شى لرې كړي او ددين او دنيا په اړه ده ته د خير رسول يوازې الله [1] كولى شي نو د چا سره چې الله [1] مرسته وكوي د هغه سره مرسته شوې وي (هغه مطلب ته رسيږي) او هغه چې الله [1] يې وښويوي (مرسته ورسره ونه كوي) هغه بيا شوبدلى وي او دا ددې كلمې د معنى تحقيق دى (لا حولَ ولا قوةَ إلا بالله)

---

[1] سورة الاسراء آية ٥٦

يعني بنده له يو حال نه بل حال ته پخپله نشي آوښتلی (پخپله د ځان لپاره ښه حال نشي پيدا کولی او نه پخپله ځان له خراب حالت نه وبستلی شي) او نه ئي پدې باندې قوت شته دا هرڅه د الله ① په مرسته سره کيږي نو بنده چې دی د ژوند په ټولو کارونو کې او له مرګ نه وروسته په ټولو مشکلاتو کې الله ① ته محتاج دی .

د ځيني صالحانو اقوال نقل شوي دي چې هغوی به فرمايل :

يا رب عَجِبتُ لِمَن يعرفُك كيف يرجو غيرَك؟!

وعَجِبتُ لِمَن يعرفُك كيف يستعين بغيرك؟

ترجمه : ای ربه زه حيران يم هغه چاته چې تا پېژني بيا ستا نه بغير د بل چا څخه ولې اميد ساتي او هغه چا ته حيران يم چې تا پېژني نو بيا لتانه بغير د بل چا نه ولې مرسته غواړي؟ [1] .

او هغه څوک چې يوازې د الله ① نه مرسته او کمک غواړي هغه خپل حال هم صرف الله ① ته وايي ، د خپل حالت په اړه هم صرف الله ① ته سوال کوي لکه حضرت يعقوب چې فرمايل :

---

[1] جامع العلوم وا لحكم

قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللّٰهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ [1]

ترجمه : وويل (يعقوب) بېشكه همدا خبره ده چې شكايت كوم (او ژاړم د لوى او واړه) غم (او اضطراب) او خفگان خپل طرف د الله ① ته (يوازې) او پوهېږم زه له جانبه د الله ① په هغه چې تاسې پرې نه پوهېږئ (لكه ژوند ديوسف)

لكه حضرت ايوب چې سخت بېمار وو او هېچاته يې د خپلې بيمارى شكايت نه كاوه صرف الله ① ته يې آواز كړو وئې ويل چې يا الله ① سخت بيمار يم الله ① يې په قرآن كريم كې په اړه فرمايي :

اَنِّیۡ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَ اَنۡتَ اَرۡحَمُ الرّٰحِمِیۡنَ (۸۳) [2]

ترجمه : بېشكه زه چې يم رسېدلى دى ماته ضرر (رنځ او سختي په بدن كې) او ته ډېر مهربان يې له مهربانانو څخه .

صرف خپل الله ① ته يې نداء وكوله امام قرطبي ددې آية په تفسير كې ليكلي چې ايوب چې كله ويل مَسَّنِیَ الضُّرُّ دا يې د خپلې بيماري شكايت نه كولو بلكه دعاء ئې غوښته او په خپله دعاء كې يې شكاره كوله چې د كوم شي لپاره دعاء غواړي

---

[1] سورة يوسف آية ٨٦
[2] سورة الانبياء آية ٨٣

ځکه الله ﷻ دده په اړه فرمايي : **إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِراً**

(يعني هغه مونږ پيدا کړو صبر کونکی) الله ﷻ د هغه د صبر ستاينه کړېده ځکه چې هغه د بيماري نه بالکل شکايت نه دی کړی.

د دعاء د قبلېدو

دريم سبب توجه کول

که بنده غواړي چې دده دعاء قبوله شي نو بايد په پوره توجه سره دعاء وکوي او په ژبه چې څه شی وايي په زړه کې يې هم بايد هماغه شی وي يعني چې په خوله باندې دعاء غواړي او په زړه کې يې نور فکرونه وي او صرف خوله يې په دعاء کړئي نو دا دعاء د قبول ځای ته نه ځي دعاء به په زړه او په خوله دواړو سره وي نو بيا به ددې دعاء د قبول اميد کيږي .

پدې اړه د حضرت ابي هريره په يو روايت کې رسول الله ﷺ فرمايي : ادعُوا اللّه وأنتم مُوقِنُون بالإجابة، واعلَمُوا أن اللّه تعالى لا يستجيبُ دُعاءً من قلب غافلٍ لاه. [1]

ترجمه : دعاء وغواړئ له الله ﷻ نه پداسې حال کې چې په قبلېدلو ئې ستاسې يقين وي او پدې خبره باندې پوه شئ چې الله ﷻ د غافل او لهوه (چټي) کونکي زړه څخه دعاء نه قبلوي .

---

[1] صحيح الترمذي

ددې نښه داده چې څوک په توجه سره دعاء غواړي هغه يکې عاجزي کوي هغه په تواضع سره سوال کوي او کله کله يکې انسان ته ژړا هم ورشي او دا صرف په هغه وخت کې ممکنه ده چې د انسان په زړه کې هماغه څه وي چې په خوله يې وايي او په کومه دعاء کې چې ژړا وشي هغه قبلېدو ته ډېره نېږدي وي او مخکنيو علماوو (اسلافو) به فرمايل :

كُنْ مثلَ الصبي إذا اشتهَى على أبويه شهوةً، فلم يُمَكِّناه قعدَ يبكي عليهما؛ فَكُنْ أنت مثلَه؛ فإذا سألتَ ربَّك فلم يُعْطِك فاقْعدْ فابْكِ عليه [1]

ترجمه : لکه ماشوم داسې شه چې له خپل مور پلار نه کوم شی وغواړي هغه يې ورنه کړي نو ورته کيني ورته ژاړي نو ته هم د هغوی په ډول شه چې د الله ① نه کوم شی غواړې چې در يې نه کړي نو ورته کېنه ورته وژاړه .

امام سيوطي فرمايي :

رُوي أنَّ موسى مرَّ برجلٍ يدعو ويتضرع فقال موسى: إلهي لو كانت بيدي حاجته؛ قَضَيتُها! فأوحى الله إليه: أنا أرحمُ به منك؛ ولكنه يدعُوني وقلبُه عند غيري؛ فذكر ذلك موسى

[1] بيهقي في شعب الايمان

للرجلِ؛ فانقطعَ بقلبِه؛ فقُضِيَتْ حاجتُه. نفض الوعاء في أحاديث رفع اليدين في الدُّعاء

ترجمه : روايت شوی دی چې موسی د يو سړي په خوا کې تېريدلو چې هغه دعاء کوله موسی وويل ای الله ① که ستا په ځای زه وای ما ددغه سړي حاجت ور پوره کولو ! الله ① موسی ته وحی وکوله : زه په ده باندې لتا څخه ډېر مهربان يم لکن هغه په خوله لما څخه دعاء غواړي او زړه ئې له بل چا سره دی موسی دا خبره هغه سړي ته وکوله سړي خپل زړه له هغه بل ځای څخه را قطع کړو (بيا يې چې دعاء وکوله) هغه حاجت يې پوره شو.

الله ﷻ د کفارو دعاء هم قبلوي

پداسي حالت کي (چې له زړه نه له الله ﷻ نه کوم شی وغواړي) الله ﷻ د کفارو دعاء هم قبلوي الله ﷻ فرمايي :

هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ حَتَّى إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُواْ بِهَا جَاءتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّواْ أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُاْ اللّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَـذِهِ لَنَكُونَنِّ مِنَ الشَّاكِرِينَ.[1]

ترجمه : الله ﷻ هغه ذات دی چې ګرځوي تاسي (په خپلو پښو يا په سورلی) په وچه او په بحر (سيند په لامبو يا په کوم شي کي سپاره) تر هغه پورې چې سپاره شئ په کښتيو کي او روانه شي (دا بېړی) سره له دغو (خلکو چې ناست وي پکې) په هغه باد سره (موافق له ضرورت د کښتی سره) او خوشاله شي په هغه سره نو راشي هغه کښتی ته باد سخت (له مخالف طرف نه) او راشي دوی ته د سيند چپه له هرځايه (او له هر لوري) او وګڼي دوی دا چې بېشکه احاطه وکړه شوه په دوی (د هلاک په اسبابو سره) دوی وبولي الله ﷻ لپاره د نجات خپل چې خالص کونکی وي ده ته دين خپل (او وائي) قسم دی که نجات د راکړ مونږ ته له دې

[1] سورة يونس آية ٢٢

(سختي) نو خامخا به شو مونږ له شکر کونکو څخه (په دغه نعمت د نجات ستا) .

امام قرطبي ددې آیة په تفسیر کې فرمایي :

یعنی دوی بیا یوازې الله ① را غواړي او له هغه څخه د خپل نجات سوالونه کوي ددې معنی داده چې انسانان ټول په فطرت کې داسې پیدا شوي دي چې په دوی باندې څه تکلیف راشي نو دوی الله ① ته رجوع کوي د زړه له کومې څخه په اخلاص او هرڅوک چې په اخلاص او د زړه نه الله ① ته رجوع وکوي الله ① دهغه سوال مني اګر که هغه کافر هم وي ځکه چې پدې وخت کې دوی له ټولو اسبابو د نجات څخه نا امیده شوي او په پوره توجه سره یې الله ① ته مخه کړېده .[1]

دعاء په ټینګه سره کول

الله ① هغه دعاء قبلوي چې بنده پکې ټینګ الفاظ استعمال کړي او خپله دعاء د الله ① تر ارادې پورې ونه ټړي د مثال په توګه په دعاء کې داسې الفاظ نه دي په کار چې څوک ووایي یا الله ① که د خوښه وي ماته شفاء راکړه د حضرت انس ابن مالک نه روایت دی چې رسول الله ❁ فرمایل : **إذَا دعاء**

---

[1] **الجامع لاحكام القرآن**

أَحَدُكُمْ فَلْيَعْزِمْ الْمَسْأَلَةَ ، وَلَا يَقُولَنَّ : اللَّهُمَّ إِنْ شِئْتَ فَأَعْطِنِي ، فَإِنَّهُ لَا مُسْتَكْرِهَ لَهُ .[1]

ترجمه : کله چې په تاسي کې چا دعاء کوله نو خپله دعاء د په ټینګه سره کوي او داسي د نه وايي ای الله ① که د خوښه وي رائي کړه ځکه (الله ① هسي هم هغه څه کوي چې د هغه خوښه وي) څوک داسي نشته چې الله ① د کوم لپاره مجبور کړي .

حضرت سفيان ابن عيينه فرمايي : **لا يَمنَعَنَّ أحداً من الدُّعاء ما يعلمُه من نفسِه؛ فإنَّ الله قد أجاب دُعاءَ شرِّ الخلق إبليس: قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِي إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ .** [2]

ترجمه : ستاسي خپل پټ ګناهونه (چې صرف تاسي وربانديې خبر ياست) دې تاسي د دعاء کولو نه منع نه کړي (د دعاء کولو په وخت دا فکر مه کوئ چې ما دومره ګناهونه کړي الله ① به زما دعاء څنګه قبلوي؟ ځکه الله ① په ټول عالم کې د بد ترين مخلوق ابليس دعاء هم قبوله کړه ابليس الله ① ته وويل : ماته تر هغه وخت پورې مهلت راکړه چې دا انسانان بيا راژوندي کېږي الله ①

---

[1] صحيح البخاري
[2] الجامع لأحكام القرآن

ورته وفرمايل تاته مهلت دركړل شو (ته به تر هغه وخته پورې نه مړ کول کيږې) .

بې تکلفه دعاء کول

هغه دعاء چې بې تکلفه کيږي دا ددې نښه ده چې د انسان زړه الله ﷻ ته راجع شوی دی او د الفاظو پرواه هغه نه ساتي او په هرډول الفاظو سره چې وي الله ﷻ ته خپل سوال وړاندې کوي او هغه کس چې په تکليف سره مسجع او هم قافيه الفاظ را جمع کوي دهغه توجه ټوله خپلو الفاظو ته وي د حضرت عکرمه نه روايت دی چې حضرت عبد الله ابن عباس فرمايل :

حَدِّث الناسَ كلَّ جمعة مرةً؛ فإن أبيتَ فمرتين؛ فإنْ أكثرتَ فثلاثَ مرار؛ ولا تُمِلَّ الناسَ هذا القرآن ولا ألْفِيَنَّك تأتي القومَ وهم في حديثٍ من حديثِهم فتقطع عليهم حديثهم فتملهم، ولكنْ أنصِتْ فإذا أمرُوك فحدِّثْهم وهم يشتهونه؛ فانظر السَّجعَ من الدُّعاء فاجتَنِبه؛ فإنِّي عَهدتُ رسولَ الله ﷺ وأصحابَه لا يفعلون إلا ذلك: يعني لا يفعلون إلا ذلك الاجتناب .[1]

ترجمه : خلکو ته نصيحت کوه په هره جُمعه کې يو ځل او که د زياتول نو بيا دوه ځله او که ډير

[1] فتح الباري

زیات نصیحت د ورته کول غوښتل نو بیا دری ځله او خلک ددې قرآن څخه مه ستړي کوه زه د تا پداسې حالت کې پیدا نه کړم (ته داسې ونه کوې) چې خلکو ته پداسې حالت کې راشي چې هغوی په خپلو خبرو کې لګیا وي ته د دوی خبرې ور کټ کړې (بیا نصیحت ورته شروع کړې) بیا هغوی خسته کړې لکن چُپ اوسه که هغوی لتا څخه وغوښتل بیا ورته خبرې وکوه چې د هغوی زړه غواړي ستا خبرو ته غوږ کیږدي په دعاء کې سجع (منظمو او هم قافیه الفاظو ته) ګوره ځان ترې ساته بېشکه ما رسول الله ❁ او اصحاب ولیدل چې هغوی همداسې کول (په دعاء کې یې له سجع څخه ځان ساتلو) .

او په هغه صورت کې چې د چا خولې ته پخپله مسجع او منظم الفاظ راځي نو بیا ورباندې څه پروا نشته لکه مخکې د رسول الله ❁ په دعاء ګانو کې یې څو ښکلي مثالونه تېر شول د مثا په ډول رسول الله ❁ فرمایل :

اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا، وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا .أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا.

ای الله ① زما نفس ته د هغه تقوی ورکړه او پاک یې کړه ته ښه پاکونکی د هغې یې ته زما د نفس متصرف او مولا یې .

په بله دعاء کې رسول الله ❁ فرمایل :

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَع [1] .

ای الله ① زه پتا باندې پناه غواړم لداسې علم څخه چې بې فائدې وي لداسې زړه څخه چې عاجزي پکې نه راځي، لداسې نفس څخه چې نه مړیږي.

دا مسجع الفاظ رسول الله ❁ په تکلیف سره نه را ټولول بلکه دهغه ژبې مبارکې ته پخپله ورتلل او د دعاء په وخت کې به رسول الله ❁ د الفاظو لوري ته بالکل توجه نه کوله د هغه ❁ ټوله توجه به د دعاء معنی ته وه او زړه به یې د الله ① سره ټرلی وو .

[1] رواه مسلم

د دعاء د قبول

څلورم سبب تر دعاء وړاندې توبه او استغفار

کله چې انسان غواړي چې د الله ﷻ په حضور کې دده دعاء د قبول مرتبې ته ورسيږي نو د دعاء نه وړاندې دې له ټيږو ګناهونو بښنه وغواړي او په راتلونکي وخت کې دې د ګناهونو کولو نه توبه وباسي ترڅو د الله ﷻ د رحمت دروازې دده په مخ خلاصې شي ځکه د انسان ګناهونه چې زيات شي د دعاء قبلېدل يې منع کيږي لکه د حضرت ابي هريره نه چې روايت دی هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

عن أبي هريرة [رضي الله عنه] قال: قال رسول الله ﷺ (إِنَّ اللهَ تَعَالَى طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلاَّ طَيِّبًا، وَإِنَّ الله أَمَرَ المُؤْمِنِينَ بِمَا بِهِ الْمُرْسِلِينْ، فَقَالَ تَعَالَى: (يَاأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنْ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا) [المؤمنون:51]، وقال تعالى: (يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ) [البقرة:172]. ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ: يَا رَبِّ؛ يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغَذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لَهُ) [1].

---

[1] رواه مسلم

ترجمه : بېشکه الله ① پاک دی او صرف پاک شیان خوښوي او الله ① امر کړی دی مؤمنانو ته په هغه شي باندې چې امر ئې وربانديې کړی دی رسولانو ته نو الله تعالی ویلي دي (رسولانو ته) ای رسولانو وخورئ هغه شی چې پاک وي او نېک کارونه کوئ او الله تعالی ویلي دي (مؤمنانو ته) ای هغه کسانو چې ایمان ئې راوړی دی (ای مؤمنانو!) خوراک وکوئ له پاکو هغه شیانو څخه چې مونږ تاسې ته در روزي کړې دي بیا یې هغه کس یاد کړو چې اوږد سفر یې کړی وي (سفر هم د هغه حالتونو څخه دی چې دعاء پکې قبلیږي او چې کله اوږد شي نو دهغه دعاء قبول ته نوره هم نېږدې شي) ببر وېښته یې وي او په خاورو باندې سپېره شوی وي خپله لاسونه د اسمان لور ته اوږده کړي او وایي چې ای ربه ای ربه پداسې حال کې دا دعاء کوي چې خوراک یې حرام وي او جامه یې له حرامو وي او بدن یې په حرامو سره قوت حاصل کړی وي نو دعائې څنګه قبوله شي؟

یعني که هرڅو د دعاء د قبلېدو نور اسباب را ټول شوي وي ترڅو چې انسان پاک خوراک چې په روا او جائز مدرک سره را پیدا شوی وي ونه کوي او په همدې ډول پاکه جامه وانه غوندي نو دعائې د قبول ځای ته نه رسیږي .

امام قرطبي ددې حدیث نه وروسته فرمایي : وهذا استفهامٌ على جهةِ الاستبعادِ مِن قبولِ دُعاءِ مَن هذه صِفَتُه.[1]

ترجمه : او د حدیث په آخر کې پوښتنه کول چې دا دعاء څنګه قبوله شي؟ د استبعاد لپاره دی یعني رسول الله ﷺ ښکاره کوي چې د داسې کس دعاء قبلېدل ډېره لرې خبره ده .

نو هغه کس چې جامه یې له حرامو وي ، خوراک یې له حرامو کړی وي ، بدن یې له حرامو څخه قوت حاصل کړی وي ده په خپله ځان ته د دعاء د قبول دروازې بندې کړې دي نو څنګه کېدای شي چې دعاء ئې قبوله شي او په اوس وخت کې د اکثر خلکو د دعاء د نه قبلېدو لوی علت او سبب همدا وي .

حضرت عبد الله ابن عباس فرمایي د رسول الله ﷺ په وړاندې دا آیت **يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي الأَرْضِ حَلاَلاً طَيِّباً** تلاوت کړل شو په مجلس کې حضرت سعد بن ابي وقاص پاڅېدو رسول الله ﷺ ته یې وویل : ماته له الله ① نه وغواړه چې زه مستجاب الدعوات شم (داسې شم چې هر وخت دعاء کوم الله ئې قبلوي) رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : يا سعد أطِبْ مَطعمَك؛ تكنْ مُستَجابَ الدعوة؛ والذي نفس محمد بيده إنَّ الرجلَ لَيقذفُ اللقمةَ الحرامَ

---

[1] الجامع لاحكام القرآن

في جَوفِه ما يتقبلُ منه أربعين يوما، وأيما عبدٍ نبت لحمه من السُّحت والربا؛ فالنار أولى به. [1]

ترجمه : ای سعده خوراک د پاک کړه بیا به د دعاء قبلیږي زما د په هغه ذات باندې قسم وي چې د محمد نفس د هغه په اختیار کې دی یو کس اچوي یوه د حرامو نوړی په خپله ګډه کې د هغې له امله یې څلوېښت ورځې دعاء نه قبلیږي او هر هغه کس چې غوښه یې د حرامو او له سود نه را شنه شوه نو هغې ته اور په کار دی .

[1] أورده الشوكاني في فتح القدير

څوک چې ګناه نه پرېږدي دعاء يې نه قبليږي

څوک چې له الله ﷻ نه غواړي چې دده دعاء د قبوله کړي نو هغه ته په کار دي چې ګناهونه پرېږدي الله ﷻ فرمايي :

اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّ خُفْيَةً ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ (٥٥)[1]

ترجمه : بولئ تاسي رب خپل (هروخت) په زاري او عذر او په پټه سره (ځکه چې په پټه بلل د اخلاص دليل دی) بېشکه چې الله ﷻ نه خوښوي تېريدونکي (له شرعي حدونو په دعاء بلکه په هرڅه کې) .

امام قرطبي فرمايي :

وكلُّ مُصِرٍّ على كبيرةٍ عالِماً بها أو جاهلا؛ فهو مُعتدٍ، وقد أخبرَ أنَّه لا يحب المعتدين؛ فكيف يستجيب له؟

ترجمه : هر هغه څوک چې کومه لويه ګناه په همېشه ډول سره کوي که وربانديې خبر وي او کنه نو دا تجاوز کونکی (له حده تېرېدونکی دی) او الله ﷻ فرمايي چې هغه کسان نه خوښوي چې تجاوز کونکي وي نو بيا يې دعاء څنګه قبوله شي .

د دعاء د قبول

---

[1] سورة الاعراف آية ٥٥

پنځم سبب سخت احتياج او ضرورت

د بنده دعاء په هغه وخت کې هم قبول ته ډېره نېږدې وي چې بنده الله ① ته سخت محتاج وي او له الله ① نه بغير يې نور له هرچا نه د کمک او مرستې اميد قطع شوی وي او پداسې وخت کې صرف الله ① ته آواز وکوي لکه هغه څوک چې په کښتی کې وي او پدې پوه شي چې کښتی نوره د غرقېدو په حال کې ده او يا انسان د بلې خوا نه پوه شي چې دی نور هلاکيږي او هغه څوک چې پداسې سخت حالت کې الله ① ته خپل د دعاء لاسونه پورته کړي نو الله ① يې دعاء قبلوي لکه د حضرت يونس دعاء يې چې د ماهي په ګېډه کې پداسې حالت کې قبوله کړه چې د الله ① نه سوا بل مرسته کونکی هېڅوک نه وو او چې الله ① هغه ته ساتنه نه وی ورکړې نو هغه د هلاکت ځای ته رسېدلی وو حضرت مالک ابن دينار ته يو کس راغلو ورته ويل يې : د الله ① لپاره درڅخه سوال کوم ډېر زيات مجبور يم ماته دعاء وکوه : حضرت مالک ابن دينار ورته وويل چې ته دومره سخت مجبور يې نو بيا خو دعاء وکوه څوک چې په دومره سخت مجبوريت کې دعاء وکوي الله ① يې قبلوي .

امام قرطبي فرمايي چې پداسې سخت ضرورت کې چې بنده بله هېڅ لاره د ځان لپاره نه ويني څوک

الله ﷻ ته د دعاء لاس اوږدوي نو د هغه سره بله هېڅ لاره نه وي ددې امله د هغه له خولې نه راوتلې دعاء اکثر د اخلاص نه ډکه وي او هره دعاء چې د اخلاص سره وي الله ﷻ يې قبلوي .

د بېمار دعاء قبلېږي

د همدې امله چې د سخت ضرورت په حالت کې څوک دعاء وکوي نو الله ﷻ دهغه دعاء قبلوي د بېمار دعاء هم قبول ته نېږدي وي ځکه هغه بېمار چې له خلکو ، ډاکټرانو او دوا ګانو څخه يې امید قطع شي او پدې پوه شي چې اوس مې د دنيا په اسبابو علاج نه کېږي نو بيا له الله نه وغواړئ او الله د هر بيمار علاج کولی شي لکه حضرت ابراهيم چې ويل :

وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ [1]

ترجمه : او کله چې زه بېمار شم نو هغه ماته شفاء راکوي

او پدې حالت کې الله ﷻ ته لاس پورته کړي الله ﷻ يې دعاء نه رد کوي .

---

[1] سورة الشعراء آية ٨٠

دعاء په حمد او درود سره شروع کول

هغه دعاء چې په حمد او درود سره شروع شي هم قبول ته نېږدي وي همدارنګه هغه دعاء چې په هغې کې په خپلو نېکو عملونو سره توسل وشي او د خپلو نېکو عملونو په برکت د الله ① نه دعاء وغوښتله شي هغه دعاء هم قبول ته نېږدي وي همدارنګه دا لاندې شیان چې د دعاء سره ملګري شي دعاء قبول ته نېږدې کوي :

هغه دعاء قبول ته ډېره نېږدي وي چې

⇦ په حمد او درود سره شروع شي او په همدې ډول ختمه شي

⇦ چې د دعاء کولو په وخت کې یې یقین وي چې الله ① زما دعاء قبلوي .

⇦ په دعاء کې اوږد والی وشي او د دعاء په بس کولو کې بېړه ونه کوله شي.

⇦ د هغه کس دعاء زر قبلیږي چې د آرام او تکلیف په دواړو حالتونو کې دعاء کوي .

⇦ د هغه کس دعاء زر قبلیږي چې هغه صرف له الله ① نه دعاء غواړي او په سخت او اسانه کار کې یوازې د هغه نه مرسته غواړي .

⇦ د هغه چا دعاء زر قبلیږ ي چې هغه خپل مال اولاد او ځان ته شېرا ګاني نه کوي .

⇦ د دعاء په وخت کې په خپلو ګناهونو اعتراف کول او بښنه غوښتل دعاء قبول ته نږدي کوي .
⇦ هغه دعاء قبلېدو ته ډېره نږدي وي چې په شوق او د زړه په جذبه سره وشي .
⇦ که څوک د خپلې دعاء قبلېدل غواړي نو که د چا مالونه يې خوړلي يې وي اول د هغوی ته خپل مالونه ور کړي او که د چا حق ورباندې وي له هغه څخه دې بښنه وغواړي او په هرډول چې وي هغه د رضا کړي.
⇦ له دعاء نه وړاندې خيرات او صدقه ورکول دعاء د قبلېدو ځای ته نږدې کوي .
⇦ هغه دعاء چې قبلېدل يې غواړي نو درې ځله دې وکوي .
⇦ په دعاء کې مخ قبلې ته اړول دعاء قبول ته نږدې کوي .
⇦ په دعاء کې لاسونه پورته کول د عاجزي نښه ده دعاء ورسره د عاجزي نه ډکيږي او په دعاء کې چې عاجزي څومره زياتيږي دومره ښه خبره ده .
⇦ دعاء بايد د اوداسه په حالت کې وشي مستحب ده.
⇦ اول ځان ته دعاء کول بيا بل چاته کول غوره دي .
⇦ هغه دعاء چې د الله ① پاک نومونه او صفات پکې ياد شي قبول ته نږدې کيږي .

⇦ د فرضونه وروسته نفل کول او بیا ورپسې دعاء کول د دعاء په قبول کې مهم رول لري .

⇦ لکه چې مخکې تېر شول ترڅو چې خوراک څښاک او جامه پاکه نه وي دعاء نه قبلیږي .

⇦ کومه دعاء چې د ګناه لپاره وي هغه نه قبلیږي بلکه الله ﷻ پداسې دعاء باندې غصه کیږي .

⇦ په خپله دعاء کې چې ټول مؤمنان، مور پلار ، علماء ، نیکان او د الله ﷻ بندګان او په خاصه توګه هغه کسان چې د هغوی په ژوند کې د مسلمانانو او د اسلام فایده وي لکه نېکان حاکمان او مشران شریک کړل شي دعاء زر قبلیږي .

⇦ د هغه کس دعاء زر قبلیږي چې هغه په هر شي کې د الله ﷻ نه سوال کوي که لویه خبره وي او که وړه .

د دعاء لپاره غوره ځایونه او وختونه

په لاندې وختونو ، لاندې ځایونو کې او د لاندې کسانو دعاء زر قبلیږي.

⇦ لیلة القدر
⇦ د شپې آخري برخه
⇦ د فرضو مونځونو څخه وروسته .
⇦ د اذان او اقامت په مینځ کې.
⇦ د فرضو مونځونو په وخت.
⇦ د باران د کېدلو په وخت .
⇦ په جهاد کې د صفونو د سره مخامخ کېدلو په وخت .
⇦ د جمعې په ورځ کې یو ساعت چې غالباً د ماښام نه وړاندې د مازیګر آخري ساعت دی .
⇦ د شه نیت سره د زم زم د اوبو د څښلو په وخت .
⇦ په سجده کې (لکن داسې دعاء چې صرف له الله ① نه غوښتل کېدلی شي)
⇦ په هغه وخت کې چې د چرګ اذان واوري .
⇦ د غرمې په وخت د لمر تر زوال وروسته د ماسپښین نه وړاندې .
⇦ د جهاد په وخت کې (چې پدې سفر کې وي).
⇦ د حج په سفر کې .

- د عمري په سفر کي.
- د بېمار د ملاقات په وخت کي.
- د خوب نه د را وېښېدلو په وخت .
- د لا إله إلا الله سبحانك إني كنت من الظالمين دعاء سره خپل حاجت غوښتل.
- د جنازې نه وروسته .
- په التحيات لله کي تر تشهد وروسته .
- د الله ① په اسم اعظم سره له الله ① نه سوال کول.
- مسلمان ته دهغه په غياب کي دعاء کول .
- د عرفات په ميدان کي د عرفې په ورځ .
- د رمضان په مياشت کي په خاصه توګه د روژه ماتي په وخت .
- د ډېرو مسلمانانو د خير په کار کي د راټولېدلو په وخت .
- په زړه کي د الله ① نه د وېرې را تېرېدلو په وخت .
- د مظلوميت په وخت کي .
- خپل اولاد ته چې دعاء کيږي زر قبليږي .
- همدارنګه خپل اولاد ته چې ښېرا کيږي زر قبليږي .
- د مسافر دعاء .
- د ضرورت من انسان دعاء .
- د عادل امام دعاء .

⇦ د هغه سړي دعاء چې مور او پلار ورځخه خوشحال وي .
⇦ د اوداسه نه وروسته .
⇦ په حج کې د جمرو د وېشتلو نه وروسته .
⇦ په کعبه کې د ننه دعاء .
⇦ په طواف کې دعاء.
⇦ په صفاء او مروه باندې د ختلو په وخت کې.
⇦ په وترو کې د دعاء قنوت په ځای کې دعاء .
⇦ د ذی الحجې په اولو لسو ورځو کې دعاء .
⇦ په حج کې د مشعر الحرام سره دعاء .
⇦ بنده چې هرچېرته او په هرځای کې دعاء کوي الله ① يې په يو شان آوري او هماغه يو الله ① يې قبلونکی دی لکن دا پورتني ځايونه او وختونه د څه برکت لرونکي دي نو پدې وختونو او دې ځايونو کې او ددې کسانو دعاء اميد دی چې زر قبوله شي.

په دعاء کې غلطيانې

مسلمان چې کله دعاء کوي بايد دعاء يې له لاندې شيانو څخه خالي وي او په خپله دعاء کې لدې شيانو څخه ځان وساتي نو بيا اميد دی چې الله ① ئې دعاء قبوله کړي ځکه دا شيان په دعاء کې غلطيانې دي او دا په لاندې ډول دي .

⇦ چې په دعاء کې څه شرکي الفاظ راشي د مثال په توګه د الله ① سره سره د کوم ولي ، زیارت او بل شي نه سوال وکول شي .

⇦ چې په دعاء کې د ځان لپاره د مرګ سوال وشي.

⇦ داسې شی غوښتل چې هغه عقلاً ، عادتاً او شرعاً محال وي.

⇦ د داسې شي په اړه دعاء کول چې هغه اوس ختم شوي وي او دی ورځخه فارغ وي (د مثال په توګه امتحان ټېر شوی وي او شاګرد سوال کوي چې یا الله ① سوالونه راته اسانه کړه)

⇦ د داسې شي سوال کول چې د شریعت له مخې ښکاره کیږي چې دا نه واقع کیږي.

⇦ خپل ځان ، مال او اولاد ته ښېراه کول.

⇦ د ګناه لپاره اسباب او سهولتونه غوښتل او یا د بل چا لپاره غوښتل چې هغه په ګناه کې آخته شي .

⇦ د خپلې یا د بل چا د خپلوي د پرېکېدلو دعاء غوښتل.

⇦ دعاء صرف تر خپل ځان پورې محدود کول لکه څوک ووایي چې یا الله ① یوازې په ما رحم وکوه ، یوازې ماته بښنه وکوه .

⇦ هغه امام چې د خلکو په مخ کې دعاء کوي او خلک ورپسې آمین وایي هغه یوازې ځان ته دعاء وکوي د مثال په ډول ووایي یا الله ① ماته بښنه

وکوه زما مشکلات ختم کړه بلکه داسې به وایې مونږ ته ښښنه وکوه او زمونږ مشکلات ختم کړه .

⇦ د ګناهونو د خپرېدلو او عام کېدلو لپاره دعاء کول .

⇦ په دعاء کې بې ادبه الفاظ استعمالول لکه څوک ووایې ای د سپیو ، خنزیرانو او شادو ګانو ربه ...

⇦ چې څوک دعاء صرف د تجربې لپاره کوي د مثال په ډول ووایې یا الله ① ماته یو موټر راکړې په زړه کې یې وي څه که یې راکړو نو ښه خبره ده او که یې را نه کړو نو څه تاوان خو مې وربانديې نه کیږي .. بلکه دعاء به انسان داسې کوي چې په ټینګه سره به یو شی له الله ① نه غواړي چې دده ورته ضرورت وي .

⇦ په دعاء کې اضافي غاړې کول او د آواز پکې د ښائسته کولو کوښښ کول هم په دعاء کې غلطي ده دعاء باید پداسې طریقه سره کوي چې څنګه دعاء کونکي ته اسانه او بې تکلفه وي .

⇦ په دعاء کې غلط الفاظ ویل مګر که داسې څوک وي چې د عربي ټکیو په اړه یې تجربه نه وي او ټکی ټرې غلطیږي نو امید دی چې الله ① به یې دعاء قبوله کړي او دده غلطي به معاف کړي.

⇦ د دعاء په قبول باندې یقین نه درلودل او یا داسې دعاء کول چې دده په زړه کې دا وي چې کېدای شي الله ① مې دعاء قبوله نه کړي بلکه د

ټینګ عزم سره به دعاء کوي او دا به یې یقین وي چې الله ﷻ مې دعاء قبلوي .

⇦ په دعاء کې داسې تفصیل کول چې په عامه توګه ضرورت ورته نه وي د مثال په ډول چا دعاء وکوله یا الله ﷻ نېکه او ښائسته مېرمن مې نصیب کړه بیا یې تفصیل کوي چې سترګې یې داسې وي ، وېښته یې داسې وي، خبرې داسې کوي ... دا هغه تفصیل دی چې ضرورت ورته نشته.

⇦ په دعاء کې د الله ﷻ لپاره داسې صفات او اسماء ثابتول چې په قرآن کریم او احادیثو کې نه وي.

⇦ په دعاء کې آواز زیات پورته کول او چغې وهل .

⇦ د داسې شي دعاء کول چې تر ده پورې څه اړه نه لري لکه په افغانستان کې څوک دعاء کوي چې یا الله ﷻ د دبی مرکز شارجه کړې او لدې سره دده هېڅ کار نه وي ترلی .

ددعاء ادبونه

د پاکي لحاظ ساتل

څرنګه چې د دعاء په حالت کې انسان د هغه ذات سره خبرې کوي چې د ټولو کائناتو رب او د مالکانو مالک دی ددې امله باید کوښښ وکوي چې په پاک ځای ، پاک لباس کې او د پاکي په حالت کې وي او په پوره احترام سره قبلې ته مخامخ

ناست وي او په عاجزي سره الله ① ته خپل مشکل وړاندې کړي او له هغه څخه پکې مدد او یا د خپلو ګناهونو بښنه وغواړي .

دعاء صرف له الله ① څخه غوښتل

دعاء به صرف له الله ① څخه غوښتل کیږي او د هغه نه بغیر به هیڅوك د خپل حاجت د پوره کولو لپاره نه را غوښتل کیږي لکه چې الله ① مونږ ته په ښکاره الفاظو کې فرمایي : له دعوة الحق ..... ترجمه : دهغه نه غوښتل په حق سره دي او هغه کسان چې الله تعالی پرېږدي او له بل چا څخه غوښتنه کوي هغه بل څوك ددوی د غوښتنو هیڅ جواب نشي ورکولی د الله په بدل کې د بل چا غوښتل داسې دي لکه یو څوك دواړه لاسونه اوبوته ور وړاندې کړي (له لرې نه) ددې لپاره چې هغه اوبه دده خولې ته ور ورسیږي حال دا چې هغه به ده ته هیڅ وخت ونه رسیږي همداسې د کافرانو دعاءګانې په ګمراهۍ کې دي.

بل ځای کې فرمایي :

یا ایها الناس انتم الفقراء الی الله ....

ترجمه : ای خلکو ! تاسې الله ① ته محتاج یاست او الله ① بې نیاز او ډېر صفتونومالك دی .

دعاء يو عبادت دی او په يوه حديث کې خو راغلي چې افضل العباده الدعاء (يعني بهترين عبادت دعاء ده) نو کله چې دعاء عبادت شو که په دعاء کې مونږ څوک له الله ﷻ سره شريك کړو يعني له الله ﷻ څخه هم او له بل چا څخه هم د مشکل په حل کولو کې کمك د دعاء په شکل کې وغواړو نو دا به له الله ﷻ سره په عبادت کې شريك منل شي کوم چې قطعاً ناروا او حرام دی .

ددعا د قبلېدلو يو لوی راز

لکه مخکې چې تېر شول دعاء کونکی که غواړي چې دعاء دې قبوله شي باید په خوراك څښاك او لباس کې له حرامو شیانو مکمل پرهیز وکوي ځکه خیټې ته حرامه یوه لقمه هم د دعاء د قبلېدلو د مخنیوي لپاره بس ده په یو حدیث کې دي : یو سړی به له اوږده سفر څخه راشي ویښتو به یې ګرد او غبار نېولی وي هغه به داسمان طرف ته لاس اوږده کړي وایي به : زما ربه زما دعاء قبوله کړه رسول الله ﷺ فرمایي چې دده خوراك حرام او څښاك حرام او جامې یې له حرامو آغوستې وي او بدن یې په حرامو باندې وده کړې وي نو څنګه به دده دعاء قبوله شي [1]

د الله ﷻ څخه صرف د روا مقصد لپاره دعاء کول

د الله ﷻ څخه به صرف هغه څه غوښتل کیږي چې حلال او پاك وي دنا روا مقصدونو لپاره به کله هم د الله ﷻ نوم نه اخستل کیږي الله ﷻ پدې باندې غصه کیږي چې بنده په یو ناروا کار کې تربنه مرسته وغواړي او دا کار د الله ﷻ او دهغه د پاك دین په حق کې کمال ګستاخي او بې ادبي ده .

---

[1] رواه مسلم

يقين ساتل چې الله ﷻ زما دعاء قبلوي

په دعاءکې بايد هرڅه د مکمل اخلاص او پاك نيت سره وغوښتل شي او دا عقيده ورسره وي چې دا زما دعاء بغير د الله ﷻ څخه بل هيڅوك نشي قبلولى او په دې يقين سره وغوښتل شي چې له کوم الله ﷻ نه تاسي سوال کوئ هغه الله ﷻ دهرڅه مالك دى او دهرشي په ورکړه باندې قادر دى .

او يقين به يې وي چې الله به زما دعاء قبلوي ددې امله رسول الله فرمايي : پداسي حالت کې دعاء کوئ چې ستاسي يقين وي چې الله زما دعاء قبلوي.

دعاء له ريا څخه ساتل :

دعاء کونکى بايد خپله دعاء د هرقسم داسې الفاظو او حرکتونو څخه وساتي په کومو کې چې دريا بوى راځي او الله ﷻ صرف هغه دعاء قبلوي کومه چې له هرقسم ريا څخه پاکه وي او صرف له الله ﷻ څخه غوښتل کيږي .

په دعاء کې نظر صرف د الله ﷻ رحمت ته ساتل:

دعاء کونکی باید په داسې حالت کې دعاء وکوي چې له هرطرف نه یې نظر قطع وي او زړه او ذهن یې ټول صرف الله ﷻ طرف ته متوجه وي او د بل طرف هېڅ قسم خیال ورسره نه وي او هغه کسان چې لاسونه یې پورته کړي وي او په خوله یې ددعا الفاظ وي او په زړه باندې یې مختلف فکرونه او خیالات وي او زړه یې الله ﷻ طرف ته متوجه نه وي دده ددې دعاء څخه د ستړیا څخه بغیر نور هېڅ اثر نه وي پدې اړه رسول الله ﷺ فرمایي: خپلې دعاءګانې د قبلېدلو له یقین ساتلو سره وکوئ الله ﷻ هغه دعاءګانې نه قبلوي چې د غافل زړه څخه کیږي .[1]

ددعا په وخت کې الله ﷻ ته عاجزي کول:

دعاء په داسې حالت کې کوئ چې ستاسې یقین وي چې زه د الله ﷻ په حضور کې یو فقیر او غریب یم او د الله ﷻ عظمت او هیبت به یې په زړه باندې

[1] رواه الترمذي

احاطه کړي وي لکه الله ① چې فرمايي : ادعوا ربکم تضرعا ... ترجمه : الله ① د عاجزۍ او زارۍ سره وغواړئ .

داسې شی نه غوښتل چې نه کېدونکې وي

دعاء کونکی به په پخپله دعاء کې داسې شيان نه غواړي چې هغه په عادت کې محال وي لکه ښځه چې وايي يا الله ما نر کړه او يا نر وايي : يا الله ما ښځه کړه او داسې نور لکه سپين ږيرى ووايي يا الله ما ځوان کړه .

ددعا څخه مخکې صدقه کول

دعاء کونکی که دخپلې دعاء قبلېدل غواړي نو ددعا څخه مخکې دې څه نېك کار وکوي لکه صدقه ورکول ، نفل کول ، روژه نېول او داسې نور او که په کوم لوى مشکل کې ګير شي نو الله ① ته دې په دعاء کې هغه خپل نېك عملونه ياد کړي چې ده د مکمل اخلاص سره صرف د الله ① لپاره په خپل عمر کې کوم وخت کړي وي .

په دعاء کې نه نا امیده کېدل

د دعاء د قبلېدلو په اړه به په الله ① باندې یقین کوي او که تر هرڅومره ډېره وخته پورې قبوله نشي نو بیا به هم د دعاء کولو حوصله له لاسه نه ورکوي حضرت عمر فرمایي : زما سره د خپلې دعاء د قبلېدلو فکر نشته بلکه لما سره دا فکر دی چې زه باید دعاء وکوم کله چې ددعاء د کولو توفیق راکړل شي بیا به ورسره قبولیت هم راکړل شي .

په دعاء کې بخیلي نه کول

دعاء کونکی باید د خیر په دعاء کې بخیلي ونه کوي او نور خلك هم په خپله دعاء کې ورسره شریکان کړي خو شروع به له خپل ځان څخه کوي بیا به نور خلك یادوي ددې مثال لپاره الله ① د حضرت ابراهیم دعاء را نقل کړېده چې فرمایل یې : ترجمه : ای زما ربه ! ما مونځ کونکی جوړه کړه او زما په اولاد کې هم مونځ کونکي پیدا کړه ای زمونږ ربه ! زما دعاء قبوله کړه ای زمونږ ربه ! ماته بښنه وکوې زما مور او پلار ته بښنه وکوي ټولو مومنانو ته په هغه ورځ باندې بښنه وکوي چې حساب به کیږي (د قیامت ورځ) . [1]

[1] سوره ابراهیم 40

دعاء کونکی به په دعاء کې تنګ نظري نه کوي او د الله ① فراخ رحمت ته به په وړه سترګه نه ګوري او دا فکر به نه کوي چې دا دعاء صرف زما لپاره په کار ده حضرت ابو هریره فرمایي : مسجد نبوي ته یو کوچی راغی مونځ یې وکړلو بیا یې دعاء کوله او ویل یې : ای الله پرما او محمد باندې رحم وکړه او پدې رحمت کې له مونږ سره هېڅوک مه شریک کوه [1]

رسول الله ﷺ وفرمایل : ده د الله فراخ رحمت محدود کړو.

حضرت نوح فرمایل :

رَبِّ اغْفِرْ لِیْ وَ لِوَالِدَیَّ وَ لِمَنْ دَخَلَ بَیْتِیَ مُؤْمِنًا وَّ لِلْمُؤْمِنِیْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ[2]

ترجمه : ای ربه زما و بښه ما او مور پلار زما او هغه څوک چې ننوزي کور، بېړۍ او مسجد زما ته پداسې حال کې چې ایمان لرونکي وي او وبښه ټول ایمان لرونکي نارینه ا و ټولې ایمان لرونکي ښځې .

حضرت ابی ابن کعب فرمایي : رسول الله ﷺ به چې څوک یادول هغه ته به یې دعاء کوله او دعاء به یې له خپل ځان څخه شروع کوله [3]

---

[1] رواه البخاري

[2] **سورة نوح آية ٢٩**

[3] **رواه الترمذي**

او په ماشوم توب کې به زمونږ مور او پلار چې مونږ ته دعاء راښودله هغه به هم همداسې وه مونږ ته به يې ويل چې داسې واياست :

خدايه ! اول ما وبښې ، بيا زما مور او پلار او استاذان وبښې، بيا زما نيکونه انا ګانې او بابا ګان بيا زما ټول حقداران او ټول مسلمانان وبښې او ژوندیو ته يې خير پېښوې .

امام به په دعاء کې مقتديان شريک کوي

که دعاء کونکی امام وي نو په دعاء کې به هروخت د جمع صيغې استعمالوي دمثال په توګه داسې به نه وايي چې يا الله ① ما وبښې بلکه وايي به چې يا الله ① مونږ وبښې ځکه امام اوس صرف د ځان نه بلکه د ټولو مقتديانو نماينده دی .

د لاسونو پورته کول

حضرت عمر فرمايي : کله به چې رسول الله ❁ دعاء کوله لاسونه به يې پورته کول .[1]

حضرت رسول الله ❁ فرمايي : ستاسې الله ① حيا ناک (څنګه چې دهغه له شان سره مناسب وي) دی او

[1] رواه الحاكم

کريم دی کله چې بنده هغه ته لاسونه پورته کړي حياء کوي چې د بنده لاسونه خالي ور وګرځوي .[1]

دعاء بيا بيا تکرار کول

انسان چې کله د الله ① څخه څه شی غواړي بايد په غوښتلو يې ستړی نه شي او بيا بيا يې وغواړي حضرت عبد الله بن مسعود فرمايي : کله به چې رسول الله ❁ دعاء کوله نو دری ځله به يې کوله او کله به يې چې څه غوښتل نو دری ځله به يې غوښتل رسول الله ❁ به فرمايل : ستاسې د يوکس دعاء قبليږي ترڅو چې هغه بيړه او تادي ونه کوي او وايي : ما د الله ① نه دعاء وغوښته هغه راته قبوله نه کړه .[2]

دعاء په يقين سره کول

مسلمان به په دعاء کې د شك الفاظ نه استعمالوي او نه به ددعا کولو په وخت په زړه کې داشك پيدا کوي چې دا دعاء زما به قبوله شي او کنه حضرت رسول الله ❁ فرمايي : ستاسې يو دې په دعاء کې داسې نه وايي چې : الله که دې خوښه وي ماته بښنه وکوه ، که دې خوښه وي پرما باندې رحم وکوه بلکه خبره به کلکه کوي (په

---

[1] رواه ابو داود والترمذي و ابن ماجه
[2] متفق عليه

داسي شان به دعاء کوي چې دده يقين وي چې الله زما دعاء قبلوي) .[1]

حضرت سفيان بن عيينه فرمايي : پتاسي کې دې څوك د خپلو ګناهونو له امله دا فکر ونه کوي چې الله به زما دعاء قبوله نه کړي الله ① دتول مخلوق دشر يعني ابليس شيطان دعاء هم قبوله کړه هغه وويل : يا الله ما تر قيامته پورې ژوندی پرېږده الله ① ورته وويل څه ته به تر يومعين وخت پورې ژوندی وې .

قَالَ رَبِّ فَانظِرْنِي الَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ قَالَ فَانَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ الَى يَومِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ [2]

ترجمه : وويل شيطان ای زما ربه ماته مهلت راکړه تر هغې ورځې پورې چې دا خلك بيا را پورته کول کيږي له قبرونو څخه ، الله ورته وفرمايل پس بيشکه ته د هغه کسانو څخه يې چې مهلت ورته ورکړل شوی وي تر هغه معلوم وخت (فنا دمخلوقاتو پورې)

په دعاء سره آواز ټيټ ساتل

مسلمان به فکر نه کوي چې که په دعاء سره چيغې ووهي نو دعاء به زر قبليږي بلکه په دعاء کې

---

[1] متفق عليه
[2] سورة الحجر آية 36

عاجزي کول په کار دي چې په تيټ آواز او سنګيني سره وي

رسول الله ﷺ هغه وخت صحابه وو ته وويل چې دوی په دعاء باندې خپل آواز ونه پورته کړل : تاسې له کوڼ او غائب چا څخه سوال نه کوئ بېشکه تاسې دداسې چا څخه سوال کوئ چې هغه آورېدونکی دی او له تاسې سره دی .[1]

د قران کريم او احاديثو الفاظ ډېر استعمالو

بهتره خبره داده دمسلمان لپاره چې په هغه الفاظو باندې دعاء وغواړي کوم چې په قرآن کريم کې وي او يا احاديثو کې را نقل شوي وي .

لکه په قرآن کريم کې چې دعا ګاني دي يو مسلمان بنده هروخت کولی شي همدا دعاګاني د خپل ځان په حق له الله ﷻ نه وغواړي :

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ الاَّ ان قَالُواْ ربَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَاسْرَافَنَا فِي امْرِنَا وَثَبِّتْ اقْدَامَنَا وانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ [2]

رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا ان نَّسِينَا اوْ اخْطَانَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا اصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَىَ لَنَا

---

[1] رواه مسلم

[2] سورة آل عمران آية 147

بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَآ انتَ مَوْلآنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ [1]

دعاء به اول څان ته بيا نورو خلکو ته کوي

مسلمان به په دعاء کې اول څان مخکې کوي بيا نيږدې خپلوان لکه مور او پلار او داسې په ترتيب سره او بيا به ټولو مؤمنانو ته د خپلې دعاء څخه برخه ورکړي الله تعالى مونږ ته د دعاء يو مثال فرمايي او وايي :

وَالَّذِينَ جَاءُوا مِن بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْايمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا انَّكَ رَؤوفٌ رَّحِيمٌ [2]

د رسول الله ﷺ په وړاندې به چې څوک ياد شول جې ده به ورته دعاء کوله اول به يې له خپل څان څخه شروع کوله او دهغې نه وروسته به يې هغه کس ته دعاء کوله . [3]

خپل غير حاضر دوست ته دعاء کول

---

[1] سورة بقره آية 286
[2] سورة حشر آية ١٠
[3] رواه ترمذي

مسلمان چې کله د ځان لپاره دعاء کوي د خپلو دوستانو لپاره به هم دعاء کوي که هغوی دلته ورسره وي او کنه هغه دعاء چې د بل چا په حق کې يې څوك کوي قبلېدلو ته ډېره نېږدې وي رسول الله ﷺ فرمايي :

د غير حاضر په حق کې د مسلمان دعاء قبلېږي د سر سره يې يوه ملائکه وي کله چې دی د ورور لپاره دعاء کوي هغه ورته وايي امين الله ① دې تاته هم همداسې درکړي .[1]

[1] رواه مسلم

احسان کونکي ته ته دعاء کول

چا چې درسره نیکي وکړله هغه ته دعاء وکړه دهغه شکریه پرې په ځای کیږي او دهغه حق هم خلاصیږي

حضرت رسول الله ﷺ فرمایي : چا چې لتاسې سره نیکي وکړله عوض یې ورکړئ او که مو څه نه لرل چې دهغه عوض پرې پوره کړئ بیا ورته دومره دعاء وکوي چې ستاسې یقین شي چې تاسې دهغه حق پوره کړو. [1]

د نېکانو خلکو څخه دعاء غوښتل

مسلمان به د خپلو دوستانو ملګرو نه دعاء غواړي په خاصه توګه چې هغوی نېکان خلك وي

حضرت عمر فرمایي : ما د رسول الله ﷺ څخه د عمرې لپاره اجازه وغوښته هغه راته اجازه وکړله او راته یې وویل : وروره مونږ په دعاء کې درسره شریك کړه او مه مو هېروه او داسې کلمه یې راته وویله چې دا ما په ټوله دنیا نه ورکړله . [2]

---

[1] رواه ابو داود

[2] رواه الترمذي و ابن ماجه

د دعاء فائدې

لکه مخکې چې تېر شول دعاء یو غوره عبادت دی الله ﷻ ته ډېر زیات خوښ دی او پدې سره الله ﷻ د انسانانو مشکلات حل کوي او د الله ﷻ هغه بنده خوښ وي چې هغه ډېرې دعاګانې کوي او هغه انسان غوره انسان دی چې د هر ډول مشکل سره مخ شي نو الله ﷻ ته خپل د عاجزي لاسونه پورته کړي او مرسته ورڅخه وغواړي ځکه دا دعاء که اوس قبوله شي نو د انسان مشکل ورسره حل شي او که قبوله نه شي نو د انسان لپاره له یوه پلوه د آخرت ذخیره شي او له بله پلوه نورې ډېرې فائدې لري انسان ته یې نورې فایدې ورسېږي د دعاء نورې فائدې یو څه په لاندې ډول دي:

دعاء رد بلاء ده

په دعاء سره انسان له مصیبتونو او بلاګانو څخه ساتل کیږي رسول الله ﷺ فرمایي :

لایغني حذر من قدر ، والدعاء ینفع مما نزل ومما لم ینزل ، وان البلاء لینزل فیلقاه الدعاء فیعتلجان إلی یوم القیامة .[1]

ترجمه : له تقدیر څخه وېره هېڅ فایده نه کوي او دعاء د هغه مصیبت لپاره فایده کوي چې نازل شوی وي او که لا تر اوسه پورې نه وي نازل شوی

[1] رواه الطبرانو و الحاکم

او بېشکه بلاء چې انسان ته را روانه وي نازليږي دعاء ورسره مخامخ شوي تر قيامته پورې يو بل سره ټېله کوي (د هغه دعاء د برکته هغه بلا نشي کولی انسان ته را ښکته شي او دده دعاء يې نه پرېږدي چې ده ته دا بلا را ښکته شي نو هغه دعاء هم پورته ونه خيږيږي بلکه د همدې مصيبت د مخنيوي ذريعه وګرځي) .

د الله ﷻ د رحمت سبب کيږي

د دعاء له امله انسان ته د الله ﷻ رحمت رسيږي پدې اړه رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ فُتِحَ لَهُ مِنْكُمْ بَابُ الدُّعَاءِ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ. [1]

ترجمه : پتاسي کې چې چاته د دعاء درازه خلاصه شي (دعاء کوي او د دعاء توفيق ورکړل شي) ده ته به د رحمت دروازې خلاصې شي .

---

[1] رواه الترمذي و الحاكم

قدر په دعاء رد کيږي

کوم شی چې د الله ① له لوري انسان ته مقدر شي هماغه به ورته رسيږي لکن هغه کس چې دعاء کوي هغه په خپله دعاء کې له الله ① څخه د ځان لپاره شه ژوند وغواړي نو ده ته مقدر حالت په دعاء سره بدلېدلی شي پدې اړه رسول الله ❁ فرمايي : لايرد القدر إلا الدعاء. [1]

ترجمه : مقدر نه رد کيږي مګر په دعاء سره .

په دعاء سره ضرورتونه پوره کيږي

اکثر انسان له الله ① څخه کوم شی وغواړي او الله ① يې هغه دعاء ورته قبوله کړي او کوم شی چې غواړي ورئې کړي رسول الله ❁ فرمايي :

ماسأل رجل مسلم الجنة ثلاث مرات قط ، الا قالت الجنة : اللهم ادخله الجنة ، ولا استجار من النار الا قالت النار : اللهم أجره. [2]

---

[1] رواه ابن حبان والحاكم

[2] رواه احمد وابن ماجة والترمذي والنسائي

دعاء کول د الله ﷻ امر پر ځای کول دي

د دعاء له فایدو څخه خو یوه لویه فایده داده چې په دعاء کولو سره د الله ﷻ امر په ځای کیږي په قرآن کریم کې الله ﷻ مونږ ته امر کوي چې دعاء وکړئ نو ترڅو مو چې دعاء نه وي کړې هغه امر زمونږ په غاړه باندې پاتې وي الله ﷻ فرمایي :

وَ قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْۤ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ (۶۰) [1]

ترجمه : او فرمایي رب ستاسې (ای بندګانوزما) تاسې و بولئ ما چې قبلوم تاسې ته (دعاء ستاسې) بېشکه هغه کسان چې تکبر (سر کشي) کوي له عبادت څخه زما ژر ده چې ننه به وزي په دوزخ کې په داسې حال کې چې خوار او سپک وي .

پدې اړه رسول الله ﷺ فرمایي :

سلوا الله من فضله فان الله يحب أن يسال . [2]

ترجمه : د الله ﷻ نه د هغه د فضل سوال وکړئ بېشکه الله ﷻ خوښوي چې بندګان ورڅخه سوال وکوي.

دعاء د مؤمن سلاح ده

---

[1] سورة غافر آية ٦٠

[2] رواه الترمذي

انسان ته په هروخت کې سلاح په کار کيږي داسې دعاء هم د مؤمن سلاح ده چې‌رته يې چې ضرورت شي نو استعمالولی شي کار ورڅخه اخستلی شي او خپل حاجت وربانديې پوره کولی شي رسو ل الله فرمايي :

الدعاء سلاح المؤمن وعماد الدين ونور السموات والأرض رواه الحاكم

ترجمه : دعاء د مؤمن سلاح ده د دين ستنه ده او د اسمانونو او زمکې رڼا ده .

دعاء د انسان ساتنه کوي

هغه څوک چې دعاء کوي دا دعاء د هغه ساتنه کوي الله ① بيا دا کس نه هلاکوي رسول الله ❁ پدې اړه فرمايي :

لاتعجزوا في الدعاء ، فانه لن يهلك مع الدعاء احد . [1]

ترجمه : مه عاجز کې‌ږئ (کمښت مه کوئ) په دعاء کې ځکه د دعاء سره هيڅوک نه هلاکيږي .

---

[1] رواه ابن حبان والحاكم

په دعاء سره زړه ژوندی کيږي

دعاء او ذکر هغه دوه مهم شيان دي چې د انسان زړه ژوندی ساتي او دعاء بيا هغه عبادت دی چې پدې کې ذکر خامخا کيږي په دعاء کې به دعاء کونکی د الله ① لويي بيانوي او د الله ① نوم به اخلي هغه ته به خپل مشکلات وړاندې کوي او له هغه څخه به د مرستې سوال کوي دا ټول د الله ① ذکر دی او هغه څوک چې ذکر کوي زړه يې ژوندی وي پدې اړه رسول الله ❁ فرما يي :

مثل الذي يذکر ربه والذي لايذکر الله مثل الحي والميت .[1]

ترجمه : مثال د هغه چا چې خپل رب يادوي او هغه چې نه يې يادوي مثال د مړه او د ژوندي دی .

---

[1] رواه البخاري ومسلم

مـاخـذونـه

لـه مـقـدس پـاک لـوړ او مـعـجـزه کـتـاب قـرآن کـريـم څخه وروسـتـه

سنن الترمذي	**محمد بن عيسى بن سورة الترمذي**
سنن النسائي	**أحمد بن شعيب بن علي بن سنان بن بجر النسائي**
سنن أبي داود	**سليمان بن الأشعث السجستاني الأزدي**
سنن ابن ماجه	**محمد بن يزيد القزويني**
مسند الإمام أحمد	**أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد**
موطأ مالك	**مالك بن أنس بن مالك**
سنن الدارمي	**عبد الله بن عبد الرحمن الدرامي السمرقندي**
تفسير القرطبي	**محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي**
تفسير ابن كثير	**إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي**
تفسير الطبري	**محمد بن جرير الطبري**
تفسير البغوي	**الحسين بن مسعود البغوي**
فتح الباري شرح صحيح البخاري	**أحمد بن علي بن حجر العسقلاني**
شرح النووي على مسلم	**يحيي بن شرف أبو زكريا النووي**

حاشية السندي على ابن ماجه	أبو الحسن الحنفي الشهير بالسندي
تفسير القرطبي	محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي
تفسير ابن كثير	إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي
تفسير الطبري	محمد بن جرير الطبري
تفسير البغوي	الحسين بن مسعود البغوي
التحرير والتنوير	محمد الطاهر ابن عاشور
التفسير الكبير المسمى البحر المحيط	أثير الدين أبو عبد الله محمد بن يوسف الأندلسي
أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن	محمد الأمين بن محمد بن المختار الجنكي الشنقيطي
تفسير المنار	محمد رشيد رضا
فتح القدير	محمد بن علي بن محمد الشوكاني
التفسير الكبير	الإمام فخر الدين الرازي أبو عبد الله محمد بن عمر بن حسين القرشي الطبرستاني الأصل

نوټ :
د قرآني آيتونو پښتو ترجمه په ټولو کتابونو کې مونږ له کابل تفسير څخه نقل کوو.

د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد ﷺ د نبوت معجزې پښتو
2. رنګه ځاله پښتو
3. آشیانه سوخته فارسي
4. په اسلام کې د انسان حقوق انګلیسي
5. دین یې دام دی ددنیا په لار کې ابښی پښتو
6. فرار از کزار فارسي
7. له کزاره تېښته پښتو
8. زوړ دین نوی مسلمان پښتو
9. ډم ډمکو جې او لیکوال پښتو
10. ادیان پشت در فارسي
11. له دروازې تر شا دینونه پښتو
12. د انصاف ا و اعتدال لاره پښتو
13. کفري الفاظ پښتو
14. کل بچه فارسي
15. معلومات عمومي فارسي
16. د حج لارښود پښتو او انګلیسي
17. محمد رسول الله ﷺ سیرت اخلاق او پېژندنه پښتو
18. د اسلامي تاریخ له پانو څخه اول پښتو

19. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دوهم پښتو
20. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دريم پښتو
21. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه څلرم پښتو
22. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه پنځم پښتو
23. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه شپږم پښتو
24. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه اوم پښتو
25. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه آتم پښتو
26. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه نهم پښتو
27. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه لسم پښتو
28. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه اول پښتو
29. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه دوهم پښتو
30. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه درېم پښتو
31. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه څلورم پښتو
32. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه پنځم پښتو
33. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه شپږم پښتو

34. د علم حدیث مطالعه پښتو او انګلیسي
35. قرآني معلومات لمړی برخه پښتو
36. کلمه طیبه پښتو
37. الدعاء ستاسي په لاس کي